

SHAFAQ
شفق

تا د لوی امت په سر ځان په وینو رنگ کړلو

ستا ټوټې ، ټوټې بدن لاچټک غورځنگ کړلو

تور او سور طاغوت باندې ټول جهان دې تنگ کړلو


من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهد
وا الله علیه فمنهم من قضی نحبه و
منهم من ینتظر و ما بدلوا تبدیلا
(قرآن کریم)
مسجد فیصل واقع در اسلام آباد که در دا
منه آن اخرین آرامگاه جنرال محمد ضیا الحق
شهید قرار دارد

بسم الله الرحمن الرحیم

شفق

SHAFAQ

ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان کمیسیون ارشاد فرهنگ

دور دوم سال چهارم شماره اول و دوم (اسد و سنبله) ۱۳۶۷

PROPERTY OF ACKU

آنچه در این شماره میخوانید

پیغام شفق . . . . یادی از جنرال ضیاءالحق شهید
پیغام برادر حکمتیار . . . . پیام تسلیتی نسبت شهادت جنرال محمد ضیاءالحق
بیانیه برادر حکمتیار . . . . به مناسبت شهادت - - - - -
کانفرانس مطبوعاتی برادر حکمتیار . . . . . : . . . . - - - - - -
خدایه زه گواهی ورکوم . . . . خاطرات مدیر هفته نامه تکبیر محترم صلاح الدین
زندگی نامه جنرال محمد ضیاءالحق . . . . - - - - - - (سوانح)
حکومت بی طرف توطیهٔ طرفها . . . . (تبصره سیاسی)
مسلمان انقلابیون دیوجدی . . . . (تبصره)
جنرال ضیاءالحق شهید و جهاد افغانستان . . . . . . (حقایق و خاطره ها)
ستاره ئی که افول نمود . . . . (گذارش)
سمبهایی از خون بهار انقلاب اسلامی . . . . (شعر و ادب)
زما یراخښتی هسیله . . . . (د شهید جنرال د یوه مرکی ځنی برخی
شهادت جنرال محمد ضیاءالحق . . . . (تبصره)
شکستند قندیل محراب را . . . . (تاءثرات)
د جنرال محمد ضیاءالحق شهادت . . . . (تاثرات)
پاکستان څنگه جوړ شو . . . . د تاریخ یوه پانـه

پیغام شفق

یادی از سپه‌سالار مؤمن و مجاهد خستگی ناپذیر جنرال محمد ضیاءالحق شهید

خواهی آن رادستور زمانه خوانی یا بازی تاریخ ، رشته هردوسخن از یک کلابه آغاز یافته است وآن است قانون فطرت وسنت خداوندی . . . سنت خداوندی درعرصهٔ زندگی انسان ساری وجاری است وطوریکه روح جسدخاکی انسان رابه‌اهتزاز درمی آورد به‌نوسان وامید ارد وبه حرکت منظم ، کارمنظم ونتیجه دلخواه سوق میدهد ، بهمین سان سنت خداوندی برخطوط وضع کردهٔ آفاقش در دهلیز های مستقیم وپرپیچ وفراز ونشیب وتنگ و وسیع وعریضش ساری‌وجاری‌است وپیکر مجسم هستی رابسوی شناخت ومعرفت میدواند . . .

نقش زندگی‌ومرگ، بهروزی‌وبه روزی، سعادت‌وشقاوت، خلاصه‌همهٔ اضداد دربن‌عرصه، کارزار، تجسم آزمایشی‌است که خداوند(ج) برای سره کردن عالم انسان وضع فرموده‌است .، البته‌دربن ازمایش خد اممتحن‌و امتحان دهنده انسان است (انسانی‌که خداوند جل وعلی شانه اورا درروی زمین شرف خلافت خودرابخشیدوخلعت کرامت رازیب اندام اوکرد ! نتایج این آزمایش در دودادگاه ، دومحکمه دونمایشگاه موردارزیابی قرارمیگیرد وکارنامه های‌تک تک انهاباترتب مکافات ومجازات به‌کافهٔ عالم بشراعلام میگردد .

عالم بشر عموماً ودر بین آنها گرویده‌گان دین فطرت خصوصاً ، هریک به‌زعم واندیشه خویش وبا اتکا به‌متون‌ونصوص‌مؤمن به ایشان برای رسیدن به منزل مقصودوپیروز آمدن اندربن کارزار زندگی‌طرق‌متجانس‌و مختلفی رادر پیش گرفتند ، گروهی ازجماعت‌بریدندوراه فردیت وانزوا درپیش گرفتند ، جمعی بااجتماع پیوستند وبا همبستگی شان دوین سلسه راموطریقهٔ بخصوصی رااختیار کردند وجماعتی‌ازین دومقیاس بادرنظرداشت‌پیوند ورابطه بااین دوازین مستوی بالارفتند وازخود گذشتندواندیشهٔ نجات‌امت درجسم وجان‌شان ریشه دوانید و با

همه گیری استعلایی واستقرایی شان در رگ رگ جامعه نفوذ پیداکردند ، جامعه را در آغوش خودگرفتند ، باایمنی چون کشتی وباعزمی‌چون نا خدا (کشتی ران) محمل‌امت را بسوی ساحل نجات بحرکت درآوردند ؛ همین است رسالت رجال بزرگ در عرصهٔ تاریخ وزندگی انسان . . .

رجال بزرگ را افکار بزرگ چنان بزرگ ببار می آورد که به عقیدهٔ خود وتماشاگری دیگران ازسطح‌جامعهٔ خود بالا میروند ، هستی وجودی وبرهان معنوی شان چنان بسط می یابد که همه‌قالبهای متد اول وفرسوده را می شکنند و بسوی کاشانه‌وآشیانهٔ نو درفضای‌نوپرواز می کنندو باطی طریق سلف صالح ، سنت برگزیده گان‌امت را ، چون‌مجددین وانقلابیون احیاء میکنند وطرحی نوی دربزم ساز کاینات می‌افگنند !

روح‌تاریخ راهمین حقیقت‌تشکیل‌میدهد که‌رجال‌بزرگ بهچیزهای کوچک کارهای مروج و مشاغل و پیش پا افتاده هرگز قانع نمی شوند وخویشتن را در قبال حق چنان مسؤول میپندارند که باتمام نیروی شان در صدد آن میشوند که فقط خود با حواریون شان پیرامون این مشعل فروزان زندگی حیثیت کارد را بگیرند رجال بزرگ همیشه بیرون گرا میباشند ، درکارهای دیگران تشبث میکنند؛ نه بخاطر این که استعداد دیگران راسخره میکنند بلکه بخاطر این که خواست فطری آنها همین است که کارها طبق مراد خود شان انجام یابد وبروز شخصیت ایشان که ازلابدیات جامعه وتاریخ است . . .

تاریخ در قرنی ، نه درجای معینی ویا یکی دوجای ؛ بلکه در جاهای مختلفی ازین گونه رجال را بررخ‌جهانیان میکشد که باحوصله مندی و تدبر و مدا را و مردمداری وپشت کارو همه گیری به دلها راه می یابند وازراه فتح قلمرو دلهاجهان را زیر نگین خود می آورند . . .

تاریخ نیم قاره‌قبل از دهه پنجم قرن بیستم که تاریخ تقسیم این قاره به دوبخش (هندوستان و پاکستان)است نیز شاهد این گونه رجال وبعد از ان نیز بوده است که تاقاف قیامت زیب تاریخ انسانیت خواهند بود وعلمبرداران انسان بودن وانسان زیستن . . .

جنرال محمد ضیاءالحق شهید نیز درزمرهٔ همین گونه رجال موقیعت دارد .

واضح است که ازادی هندوستان از سلطهٔ جهانخوار کهن (انگلستان) وجدایی پاکستان از هندوستان درسال ۱۹۴۸ بنام اسلام ومسلمانان‌حتماً نمیگذارد که‌نیروهای شرک وسران استکبار جهانی در رابطه با این قضیهٔ داغ منطقه وجهان بی‌تفاوت ماند - زین روچه استعمار جهانخوار غرب وچه قدرت‌شیطان‌زدهٔ‌شرق باهمه نیرویشان درصدد آن برآمدند که به هروسیله ممکن مشکلاتی برسرراه این کشورنوپای‌اسلامی ایجاد کنند ، آنها درین خطهٔ پرما جرا که استعمار کهن انگلیس قبلا نیز درآن تخم گذاری جاسوسی کرده بود وهنگام ترک این مرز وبوم نیز افراد ورزیده اش رابه عباوقبای مسلمان درین جاگذاشته بود - از گماشتن‌حتی جاسوسی‌هم دریغ نورزیدند ؛ چه‌رسدبه‌انکه دستگیری افرادی رانکرده باشند که به‌اصطلاح صاحب حزب ونفوذ و سلطه درین منطقه باشند ؛ ماجرای کشته شدن لیاقت علی‌خان وسپس فشار حکمرانان خود کامه ومزدور بر نهضت اسلامی واقشاروسیع مردم ، تخریب ووطن فروشی احزاب مزدور درین کشور- این همه واقیعتهایی است که تاریخ آن را هر گز فراموش نخواهد کرد .

بیاد داریم که فتنه‌و فساد وجاه طلبي واستقرار خصلت وطن فروشی‌درنهاد اربابان زور وزر وتزویر این خطه ، بالاخرسخن‌رابجایی‌رساند که‌درسال ۱۹۷۱ داکه(بنگله دیش پاکستان شرقی)سقوط کرد واضح است که درسقوط داکه هندوستان‌دشمن دیرینهٔ اسلام و مسلمانان نقش عمده وبسزایی داشت ، روسیه و انگلیستان نیز

درین پلان سنقماً باهندوستان همکاری داشتند . سقوط بنگله دیش وتجزیه پاکستا نیز نتوانست آتش انتقام کفر جهانی را سرد کند ، آنها برآمدند که آیالت سرحدی رانیز بنام پشتونستان وسندوبلوچستان رابنام بلوچستان وسند ودیش از پیکر پاکستان جدا نمایند - مزدورانی نیزدرین رابطه تربیه وگماشتند ، خلاصه اوضاع سیاسی ، اجتماعی ، اقتصادی و فرهنگی پاکستان به‌سرحدی رسیدکه‌عملی‌شدن پلانهای استکبار جهانی درین‌جا از ممکنات بشمارمی آمد .

جنرال محمد ضیاء الحق شهید با در نظر داشت آیندهٔ محتوم به زوال کشورش افکار ونظریاتش را از فعل به قوه انتقال داد - جهت سرنگونی نظام استبدادی وعمال مزدور آن بحرکت در آمد ودر پنجم جولای ۱۹۷۷ حکومت و ملحقات آن را منحل اعلام‌کرد وبا اعلان حکومت نظامی زمام امور رابه دست‌گرفت . ٠

جنرال محمد ضیا ٠ الحق شهید در اولین بیانیه اش خطاب به ملت پاکستان ازنفاذ آیئن نجات بخش اسلام سخن گفت وعزم راسخش را درابن رابطه چنین اظهار داشت ؛ « من به صراحت اعلام میکنم که نه کدام عزایم سیاسی دارم ونه ، میخواهم که ازوظایف نظامی ام شانهٔ خالی کنم ، من فقط بخاطر پرکردن خلائی آمده ام که سیاستمداران پیدا کرده اند ومن این چلینج را بحیث یک سپاهی اسلام قبول کرده ام ٠ » وبه این ترتیب باتدبر و پشتکار مستمر وحکمت خدا د به باز سازی تدریجی جامعه خود دست از درکار شد ٠

واضح است که مشکلات بزرگی برسر راهش عرض اندام کرد ؛ اما سپاهی اسلام راخداوند در هر فرازولشیب زندگی همراهی میکنند — طوالت دوران زمامداری اومصادف بود بامرگ تدریجی مزدوران استعمار — اوتوانست بافهم سیاسی وسیع وهمه گیرش ، رگ ، رگ ، جراثیم فساد را به‌ملتش وانمود سازد ودربی اثرسازی آن ازحوصله وسیع — انقلابی کار گیرد . . . چه بسانیات شومی که‌در خاطره هاخفته شدند وچه بسا اعمال جنایتکارانه‌یی که‌در رویارویی باسیاست « ضیاء » آتش گرفتند وخاکسترشدند ! ! ! رقیبان سیاسی اویکی پی دیگر دربرابرش به زانو درآمدند ؛ البته بدون این که وی ازصلاحیتهای حکومتی خودکار گرفته باشد ؛ چون درزدوران اوبد نامترین خائنان کشورش نیز ازندان رهاشدند . . عزم‌راسخ وعقیده جازم اواین گونه خاینین وعملکرد های شان رابرابر هیچ میدانست ودر طرفی میکوشید باآزادگذاشتن این قماش‌مردم چهرهٔ واقعی آنها رابه‌ملت پاکستان خوبتر بشناساند .

تاجایی که به بشناخت کشورش واستعداد های نهفته درآن تعلق دارد ، جنرال شهیدطی دوران زمامداری یازده سال‌اش این کشور رابه مرحله یی ازترقی رساند که‌در صد سال‌آینده پاکستان بجز موجودیت اوتصورآن نمیرفت ، طوری که درگفتار همیشه ترکیزبرآن داشت که مسلمانان باید باروح عصر اشناشوند واز راه‌علم و صنعت‌وتخنیک باجهان‌رقیب شان‌همسري‌کنند ؛ بلکه ازآنهاسبقت جویند ، درعمل نیزاین حقیقت‌رادر کشورش پیاده کرد آکنون فاصله‌یی اندکی مانده‌است که پاکستان درزمره کشورهای مترقی محسوب گردد ، بیاددارم که اودر یکی ازبیانیه هایش مسلمانان جهان رامخاطب قرارداده گفت : « بدشنام نمیشود دشمنان راپاسخ داد مسلمانان باید دشمنان شان رابه علم وتکنولوژی پاسخ بدهند » . . .

جنرال محمد ضیا٠الحق درجهان اسلام ، مردی نبود فقطوابسته به پاکستان ؛ بلکه اندیشه واراده وعمل او منحیث یک مسلمان واقعی مرزهارابرهم میزد درامید وآرزوی آن‌بود که جهان اسلام ازمشکلات موجود نجات‌ باید وبرای چاره جویی این‌کار تاآخرین رمق حیاتش از سعی وتقلا باز نه نشست — اودررابطه‌با ایدیولوژی

انقلابی اش نه‌ازمسألهٔ افغانستان بی تفاوت ماند ونه‌از اوضاع فلسطین اشغالی ـ نه مسلمانان کشمیر رافراموش کرد ونه ازحال مسلمانان فلیپین وافریقای جنوبی غافل ماند ، خلاصه‌اوشخصیت بین المللی دلسوز بجهان ـ اسلام بود ـ اوآگر دریک‌قسمت ، نظامی ورزیده بود ـ دربخش دیگرسیاست مدار پخته‌کارو دوراندیش اگردر وهله‌یی مدبربود دروهله دیگر ایدیو لوگ وتیوریسن. . . درسال ۱۹۸۰ « ۲۷ جنوری هنگامی که لرزهٔ مهیبی براندام جهانیان مستولی شده بود وهمه درفکر آن‌بودند که دست خون چکان امپراطوری استعمار گر روس خیلی خیلی در از شد ، حتماً بما نیز میرسد وروزی گلوی ما را نیز خواهد فشرد ... زمانی که غولترین ابر قدرت نظامی (امریکا)به‌نشانه دستپا چگی اعلام میکند که :«اگر روسها از خیبر تجاوز کردند مجبو ر به مد اخله خواهیم بود » ویکسره از تجاوز نظامی روسهابرافغانستان وجنایات‌آنهاچشم‌می‌پوشد ودرفکر تجاوزازخیبررمی‌افتد جنرال مئومن و پاسدار مرز های اسلام ـ کنفرانس سران اسلامی را در اسلام آباد فرامیخواند وخلاف معمول کنفرانس سران اسلامی بشکل اضطرار ی‌آن‌دایر میگردد ، وی در ین کنفرانس‌با جزم وقاطیت اعلام‌میدارد که :« این کنفرانس نماینده نه صدملیون مسلمان از منا طق‌مهم و و سیع جهان‌است‌شما نسبت به من‌بهتر میدانید که این نه صد ملیون مردم بریک خدا (ج) ، یک رسول ویک کتاب ایمان دارند وبطور بجارکن امت ـ اسلامیه گفته میشود ، ازخداوند بزرگ سپاسگزاریم که این امت راعلاوه ازاین که به ایمان بهتر وایدیولوژی کامل زندگی نوازش داده است ، ازوسایل قابل رشک‌نیز برخوردارند واکثر ممالک این‌امت ازلحاظ موقعیت جغرافیایی در مناطقی قرار دارند که باموجودیت آنها میشود امنیت جهانی راتامین کرد ، موضوعی که باید درباره آن‌اندیشید این است که این امت‌بافرصت بهتری ایدیولوژی ووسایل ، چرابا مصائب گونه گونی مبتلااست ؟ . . . تازه ترین تراژیدی یی که به وقوع آن‌جهان به تهیدن آمده‌است ، تجاوز نظامی روسها بر افغانستان است ، این تجاوز که دران عساکر روسی به پیمانه وسیعی شرکت جستند ، منافی همهٔ قوانین واصول مسلم بین‌المللی است ، شکاراین تجاوز ، آن‌پانزده ملیون مردمی است که درهیچ مقطعی ازتاریخی در برابرهیچ متجاوزی سرتسلیم خم‌نکرده اند ، متیقنم که‌مردم‌غیور ، شجاع‌ودلیر افغانستان سنت‌دیرینه‌شان را هم چنان ارج خواهند گذاشت . . . اسلام‌یک ایدیولوژی کامل زندگی است‌که دربرابرمذاهب دیگر درس تحمل‌وبرد باری رامیدهد ، ما مسلمانان نمیخواهیم ایدیولوژی خودرا بردیگران تحمیل کنیم‌امااین رانیز پذیر فتهٔ نمیتوانیم که دیگران ایدیولوژی شان رابا توسل به زوربرما بقبولانند ، ایدیولوژی ها هریک بخود مقام واهمیتی دارند ومن‌فکرمیکنم که‌جنگ ایدیولوژیکی باید درجبهه ایدیولوژیکی صورت بگیرد . . .

بوسیله توپ وتفنگ به پیروزی رساندن یک ایدیولوژی ویامعی قبولاندن وتحمیل آن‌باتوسل به‌زوربر دیگران ازهرلحاظ قابل تقبیح‌است . . . اکنون به اثرتجاوز خارجی درافغانستان وضع کاملاً دیگر گون شده‌است ، به اثر این‌تجاوز نتایج دوررس برامنیت بین المللی مرتب شده‌است که برای جهان اسلام‌بالخصوص وبرای سایرجهانیان بالعموم سبب تشویش ونگرانی عمیق گردیده است . بعداز جنگ دوم‌جهانی این‌اولین موقعی‌است که‌یک‌ابرقدرت نظامی‌کشورهمسایه آزاد ، خودمختار وفقیروکوچکش را اماج تجاوز نظامی‌قرارمیدهد . . .مامیتر سیم که رسم مغلوب ساختن کشورهای کوچک باتوسل به‌زور ازهمین اکنون تغیرداده نشود ، جهان وموجودیت کشورهای کوچک باخطر مواجه خواهد شد . . . من‌به برادران افغان خوداطمینان میدهم که انعقاد این‌کانفراس درین جاثبوت آن‌است که آنهادرین‌مصیبت تنهانیستند ؛ بلکه‌سایرجهان‌اسلام‌باآنهااست.. . کنفراس اضطراری وزرای خارجه کشورهای اسلامی درین جابخاطرآن انعقاد نیافته است که به بیانیات تند

وانقلابی کفایت‌شود ، بلکه هدف‌اساسی‌این‌کانفرنس آن‌است که به‌روسیه این‌پیغام رسانده شود که جهان اسلام تجاوزنظامی روسیه درافغانستان رابه‌نگاه‌تشویش — مینگردوجداً خواهان آن‌است که هرچه زودتر دامان این تجاوز برچیده شود ، فقطبعد ازین‌اقدام میشود که فضای اعتمادوهمکاری بین‌جهان اسلام وروسیه بر قرارشود ».

جنرال محمدضیاءالحق شهید در مارچ سال ۱۹۸۲ ضمن بیانیه در کنفرانس کشورهای غیر متعهدمنعقدۀ هوانا مرکز کیوبا »گفت . . . بر دور کن این تحریک (افغانستان و کمپوچیا)تجاوز نظامی صورت گرفته است . . . ؛ تراژیدی افغانستان این است که به اثر تجاوز نظامی خارجی برآن به صدها هزار مرد و زن‌اطفال معصوم خانه و کاشانۀ شان را ترک‌وبه پناه گرفتن به کشورهای دیگر مجبور شده اند . . . ما در امور داخلی دیگران مداخله نمی‌کنیم ؛ اما به متجاوز میگوییم که عساکر خود را از افغانستان طلب کنند و مردم افغانستان را بگذارد که طبق دلخواه خود نظام اجتماعی اقتصادی و سیاسی بسازند ، تا مهاجرین افغان در فضای امنیت و وقار بکشور شان باز گردند . . .

او در جنوری ۱۹۸۴ طی کانفرانس اسلامی منعقده کازابلانکای مراکش در بخشی از بیانیه‌اش گفت ؛ البته این بخشی از بیانیه‌اش پاسخی بود به یاوه سرایی های ابراهیم جالود وزیر اعظم لیبیا ؛ چون جالود در قسمتی از بیانیه اش گفته بود که ممالک اسلامی به دو بخش عمده تقسیم شده اند : بخشی مترقی و بخشی دیگری مرتجع هستند . . . جنرال محمد ضیاءالحق در پاسخش چنین گفت : در اسلام گروپ بندی نیست ؛ در اسلام فقط یک امت است امت حضرت‌محمدمصطفی ﷺ . . این کنفرانس بخاطر آن دایر نشده است که امت اسلامی‌رابرسمیت بشناسد ؛ بلکه هدف عمده و اساسی آن این است‌که امت اسلامی‌راباهم متحد کند .

مطرح بودن جنرال محمدضیاءالحق شهید در محافل بین‌المللی جهان اسلام بحیث یک عنصر فعال پرنشاط همیشه کو شان از نظر هیچ صاحب بصیرت پوشیده نیست بالاخره درین اواخر که یکسره هم وغمش را متوجه حمایت دستیاری و پیروزی مجاهدین افغانستان نموده بود گر چه درین راه‌بامشکلات مزیدی مواجه‌شد اما تا اخرین‌لحظۀ زندگی بر کلمه حق پا برجا و ثابت ماند همه یاد داریم که اولین پشتیبان جهاد افغانستان همین شخصیت بارز و مرد شجاع تاریخ معاصر جهان اسلام بود البته رجال بزرگ در حوادث بزرگ بزرگی و بزرگمنشی خویش را ناخود اگاهانه‌در معرض نمایش جهانیان میگذارند روسهای جنایتکار میپنداشتند که توام با تجاوز شان بر افغانستان همه صداها خشک وهمه دستها کوتا و همه تصمیمها نسبت به حکومت دست نشانده شان در افغانستان نقش به آب خواهد شد اما خلاف توقع انها جنرال محمد ضیاءالحق شهید ؛ این دلیر مرد آسیا و بت شکن عصر با ابهت و جلال ملکوتی اش در برابر نیروهای اهریمنی روسیه این جنایتکار فاجعه افرین عصر در ابعاد مختلف مبارزه و جهاد چون کوه ثبات عرض اندام کرد ؛ از حقیقت چشم نپوشیم یکی از عوامل عمده‌وزیده‌شکست‌روسها؛ عاملی که‌در دست اول باید روی ان حساب کرد‌شخصیت‌نامی‌جنرال محمدضیاءالحق شهید بود . . .

او در راه حمایت و پشتیبانی جهاد و مجاهدین ،بعد سیاسی انقلاب‌اسلامی و مهاجرین‌با پرابلم های بزرگی در کشورش مواجه شد عمال‌(کا ، جی ، بی) دست‌به اعمال تروریستی زدند ، احزاب مزدور روسیه درین کشور موانع بزرگی را در راه آرامش پاکستان ایجاد کردند ، ضیای شهید خود مستقیما چندین مرتبه مورد تهدید روسها قرار گرفت ، طیارات روسی مناطق مختلف سرحدی پاکستان را مورد بمباردمان قرار دادند ؛ ولی او مسلمان بود از ملامت هیچ ملامتگری در این راه بیمی نداشت و نه تند بادهای حوادث قامت راست

باقی بعد ص ۴۳

ربنا افرغ علیناصبراً وتوفنامسلمین

* * * * * * * * * * *

د وروړ حکمتیار د هغه تعزیتی پیغام متن چی د محمد ضیاءالحق د شهادت په مناسبت ئی د هغه د کورنی ، د پاکستان د جمهور رئیس غلام اسحق خان، د څلور صوبو د اعلی وزیرانو، د پاکستان د وسله والو قواؤوله لوی درستیز او ددی هیواد د بهرنیو چارودوزیر صاحبزاده یعقوب خان په نوم د ۱۳۶۷ د زمری په ۲۷ صادر کړ .

د طیاری دسقوط د دردناکی سانحی په وجه د افغان ولس په نماینده گی خپل عمیق تاثرات او خواشینی څرگندوم ، د پاکستان د جمهور رئیس مرحوم جنرال محمد ضیاءالحق شهادت د پاکستان ، افغانستان او ټول عالم اسلام لپاره یوه ستره غموونکی پیښه او ستره ضایعه ده، په خاصه توگه زموږ د منطقی د اوسنیو حساسو حالاتو په ارتباط چی له هغو سره د مقابلی لپاره دمرحوم ضیاءالحق په شان یوه مومن ــ زړور ، مدبر او متین شخصیت ته شدید او جدی ضرورت و . امید دی الله ج دا لویه ضایعه جبران کړی او د دوی له شهادت نه را پیدا شوی خالیگاه د ده په شان یوه صالح قیادت په راتلو ډکه او پاکستانی اولس او د دوی کورنی ته صبر ورپه برخه کړی .

افغان مجاهدین ، مهاجرین او افغان ولس لی پاکستانی ملت او ټول امت سره پدی غم کی برابر شریک دی .

د مرحوم جنرال محمد ضیاءالحق شجاعانه او مدبرانه موافقو زموږ د افغان ولس د آزادی په جنگ کی لویه برخه وه امید دی الله ج هغه زموږ د اسلامی جهاد د شهیدانو په صف کی ومنی .

زما به هغه ورځ هیڅکله هیره نشی چی په یوه کنفرانس کی د مرحوم ضیاءالحق سترگی د افغان مجاهدینو د قربانیو په یادولو سره اوښلنی شوی او افغان جهاد ئی د پاکستان او اسلامی امت د دفاع جنگ وگاڼه .

زه ټولو هغو نورو پاکستانی وروڼو ته هم له الله ج د مغفرت غوښتنه کوم چی د همدی غموونکی پیښی قربانیان دی، الله ج دی خپل وسیع رحمت د هغوی په حال شامل کړی .

اناالله و اناالیه راجعون

حکمت یار

د حزب اسلامی افغانستان امیر

* * * * * * * * *

بسم الله الرحمن الرحیم

پیام به قوماندانان مومن و سنگرداران شکیبا

که به تاریخ ۲۷ اسد به تمام مراکز مجاهدین در افغانستان مخابره گردید

به همه قوماندانان مومن و سنگرداران صابر وشکیبا

السلام علیکم ورحمته الله وبرکات و بعد .

در پناه عنایات الهی بوده پیروز و موفق باشید

برادران عزیز .

حتماً از حادثه سقوط طیاره حامل رئیس جمهور پاکستان مرحوم جنرال محمد ضیاءالحق اطلاع یافته اید . هرچند ملت مجاهد افغانستان با از دست دادن ایشان از موئد قاطع ـ شجاع و مدبری محروم

گردید که در تائید جهاد افغانستان ـ رول بزرگی داشت و قاطعیت، صبر وصمود او باعث شد تا پاکستان در برابر فشار های گوناگون دشمن تسلیم نشود تهدید و تخویف ماسکو ودهلی او را از موضع عادلانه اش عقب نکشد و ملت پاکستان درطی ده سال گذشته با صبر و متانت دشواری های ناشی از تائید جهاد و پناه به مهاجرین را متحمل گردد.

گرچه ما با شهادت دوستان خود عمیقاً محزون می شویم ولی اتکاء و اتکال ما بر خداوند قدیر و خیرالناصرین بوده مطمئینم که خدای حامی و مدافع مومنان برای ما کافی است وی ج چنانچه تا حال تائید و نصرتش را شامل حال ما ساخت ـ مؤامرات دشمن را یکی پی دیگری خنثی کرد ـ مشکلات ما را حل و دل های مردم را بسوی ما متمایل ساخت و آغوش ملت وکشور پاکستان را برای ۲،۵ ملیون مهاجر ما باز گذاشت ، همچنان ما را در میدان تنها نخواهد گذاشت .

لازم است با صبر وشکیبائی با اطمئینان کامل به پیروزی و با ثبات و استقامت به مقاومت دلیرانه خود ادامه بدهیم . هجمات خود را علیه دشمن شدت بخشیم و با آخرین ضربات به فرق دشمن بکوبیم .

مقاومت در آستانه پیروزی نهائی قرار دارد ـ روز های فتح نزدیک است ـ باید با آخرین ضربات کوبنده خود پیروزی قریب را قریب تر ساخته و به

دنیا ثابت کنیم که هیچ حادثهٔ نمیتواند در عزم و اراده راسخ ما خللی وارد کند و پیروزی محتوم ما را سد نموده ، شور وشوق و نشاط ما را تضعیف نماید شاید پیروزی را کسانی به آغوش میکشند که در برابر حوادث صابر اند و در راه رسیدن به هدف آماده قربانی .

خداوند قدیر حافظ و ناصر تان

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

برادر تان حکمتیار

اعجازالحق فرزند بزرگ محمدضیاءالحق شهید ، روزی در پاسخ روز نامه نگاران گفت : به پدرم گفتم : « نزدیک است که یازده‌سال دورهٔ زما مداری تان به اتمام برسد این یازده سال مدت طولانی یی اســت ، از کارگوشه گیری کنید و قدرت را به کسی دیگری تفویض نمایید» اودر پاسخم :گفت« تا زمانی که در افغانستان حکومت مجا هدین تشکیل نشود از قدرت دست نمی کشم ، ولی همینکه در افغانستان حکومت اسلامی قایم شد یک روز نیز درسمنم باقی نخواهم ماند .

هیله مندیم چی سږ کال د افغانستان د آزادی په جشن کی گډون وکړم او کابل ته د رسیدلو سره سم د پل خښتی په جامع جومات کی دوه رکعته لمونځ د شکرانی په توگه اداکړم

(شهید محمد ضیاءالحق)

د حزب اسلامی د امیر د هغې وینا متن چې د زمری په ۲۷ مه نیټه ئی د نصرت مینی په جامع جومات کی د شهیدانو د غونډی برخه والو ته د افغانستان د روانو حالاتو او د پاکستان د جمهور رئیس مرحوم محمد ضیاءالحق د شهادت په مناسبت وکړه .

الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد : فاعوذوبالله من الشیطن الرجیم کل نفس ذایقة الموت انما توفون اجورکم یوم القیمه فمن زحزح عن النار و ادخل الجنته فقد فاز و ما حیات الدنیا الامتاع الغرور .

زما د ایمان او عقیدی ورونو !

زه په پیل کی د شهیدانو لپاره دعا لرم ، بیا د پاکستان د یوی ستری دردناکی پیښې په باب مختصر ویل غواړم ، وروسته د افغانستان د وروستیو حالاتو په رابطه ورونو ته معلومات ورکوم او بیا به هغو توطیو ته په اختصار سره اشاره وکړم چی روسانو اوس اوس د مجاهدینو په خلاف تر لاس لاندی نیولی . ورونو ! زموږ د شهیدانو قافله په همغه شور او ځوږ او شدت سره روانه ده ، هره ورځ په سلگونو نور کسان لدی قافلی سره یوځای کیږی په تیره بیا په دی شپو ورځو کی چی مقاومت تر بل هر وخت نه تشدید شوی او دښمن د مجاهدینو تر سختو گذارونو لاندی دی . الحمدلله د افغانستان په گوټ گوټ کی د روس او دهغه د گوډاگی حکومت پر خلاف جگړه روانه ده،په همدی تناسب د شهیدانو شمیر هم زیات شوی دی . پدی شپو او ورځو کی زموږ لوی لوی قومندانان په شهادت رسیدلی دی چی تاسی په دی غونډه کی د ځینو ورونو نومونه واوریدل . د نجراب د ولسوالی عمومی امیر ملک محمد طاهر ، امیر صاحب حشمت الله سره له خپلو دوو نورو ملگرو عبدالمحمود او څارنوال صاحب عبدالوهاب د یوه مین د انفجار په ترځ کی په شهادت ورسید ل . همدا راز شهید معلم صاحب ذکرالله کوچی چی په روسی قطارونو باندی د حملی لپاره د محمد آغی ولسوالی ته کوز شوی ؤ وروسته له هغه چی د ابوس توپ گولی ئی ټمنگه ته لگیدلی ، د

یوه پاکستانی ورور په گډون له څو نورو ورونو سره په شهادت ورسید . همدارنگه زموږ شهید ورور مولوی صاحب عبدالقیوم ، شهید ورور محمد نعیم «فروزان » همدارنگه زموږ یو ډیر سابقه دار ورور انجینیر محمد حکیم د ځدرانو وسیدونکی هم وفات شوی دی . موږ د دوی او دافغانستان د گوټ گوټ د شهیدانو لپاره له الله ج نه د مغفرت غوښتنه کوو . خدای ج دی د هغوی شهادتونه قبول کړی او خدای دی جنت فردوس ورپه برخه کړی .

ملك محمد طاهر زموږ له ډیرو کامیابو قوماندانانو څخه ؤ که څه هم هغه له تحصیل کرده طبقی څخه نه ؤ خو د ملت له متن نه را اوچت شوی شخصیت و . هغه دا کفایت او استعداد درلود چی د خپلی منطقی قیادت په لاس کی واخلی ، ولس په خپل ماحول کی را ټول کړی او د جهاد په لوړو ، ژورو او حوادثو کی ئی توجیه ، سوق او اداره کړی او دټولی منطقی د اداری له عهدی نه کامیاب ووځی ، د دښمن مقابله هم وکړی او دمنافقینو د تشبثاتو شر هم دفع کړی . هغه خپله ټوله سیمه آزاده کړی وه او فقط د یو تنظیم تر کنترول او تسلط لاندی ئی د علماو تر لویه شوی جوړه کړی وه او د ولس ټول اقشار ئی قانع کړی ؤ .ځینی ناپوه او خود غرضه خلك د حزب په

خلاف دا تبلیغات هم کوی چی گویا دا فقط د مکتبیانو حزب دی ! پداسی حال کی چی په حزب کی له استثنا پرته د ملت ټول اقشار را ټول شوی دی . دا د هر مسلمان حزب دی ، دلته معیار فقط ایمان ، تقوی او جهاد دی . موږ بل هیڅ شی ته هیڅ ډول ارزښت نه ورکوو . موږ صرف پدی معیار او بنیاد صالح عناصر راټولول غواړو . او چی څوك راوړاندی کیږی هغه به د هغه د تقوی ، امانتداری ، ایمانداری ، نقش ، کفایت ، استعداد او اهلیت په وجه وی . امیر صاحب ملك محمد طاهر زموږ له همدغسی قوماندانانو څخه ؤ . حزب وربانډی اعتماد درلود ، هغه تحصیلکرده نوږ خو امین ، متقی او دشهادت د جذبی درلودونکی و ، له همدی امله حزب د ټولی ولسوالی د امیر په توگه منلی و . وروڼو!

شهادت زموږ لار ده د مرگ خوند به هر نفس څکی . الله ج فرمائی"کل نفس ذایقه الموت"، هر ذیروح او د ژوند خاوند به خامخا د مرگ خوند څکی"کل نفس ذایقه الموت انما توفون اجورکم یوم القیمه فمن زحزح عن النار و ادخل الجنته فقد فاز و ما حیات الدنیا الامتاع الغرور" . خبره دا ده بله نده چی تاسی به حتماً د خپلو عملونو ، پاداش او بدله د قیامت په ورځ په بشپړ ډول تر لاسه کوی په مرگ سره د چا اعمال ... تابع کیږی د هغه اعمال به په دنیا کی هم خپله محر... طبعی نتیجه ورکوی او په اخرت کی هم د خدای په نزد د عوض او پاداش مستحق دی . پداسی حال کی چی انسان به خامخا د مرگ خوند څکی نو ولی ئی دا مرگ د لوی هدف او د خدای د رضا لپاره د ایمان په سنگرونو کی نه وی، انسان باید لدی نه وویریږی چی مرگ ئی په بستر کی ونیسی ، دا د افتخار خبره ده چی انسان د ایمان په سنگرونو کی خپلی وینی توی‌وی او له خپلو وینو سره د خدای حضور ته ورځی . داسی مرگ باید د هر مومن تمنا و ی . مرگ په اوچتو اوچتو بنگلو کی هم راځی او له ټولو امنیتی تدابیرو سره سره له مرگ نه څوك ځان نه شی خلاصولای،په پیښور کی هم خلك مری ، د بستر تر مرگ ،د موټر د تصادم تر مرگ او د خپلو شخصی شخړو تر مرگ نه مسلمان باید د خدای په لار کی مرگ ته زیاته ترجیح ورکړی .

وروڼو ! مرگ به حتماً راځی خو خدای ج دی زموږ مرگ دشهادت او ایمان دسنگرونو مرگ کړی . فمن زحزح عن النار و ادخل الجنته فقد فاز و ما حیات الدنیا الامتاع الغرور". څوك چی د دوزخ له عذاب نه وژغورل شو او جنت ته داخل شو یقیناً چی هغه کامیاب شو فوز او کامیابی دا ده چی انسان د دوزخ له عذاب نه وژغورل شو او جنت ته داخل شو . دصحابه وو په نزد فوز او کامیابی دا وه چی د خدای په لاره کی په شهادت ورسیږی چی کله به هم چا زخم وخوړ چی پوهیده به لدی زخم نه په شهادت رسیږی نو قسم به ئی خوړ چی زه کامیاب شوم .... د کعبی په رب قسم چی زه کامیاب شوم .... په الله دی قسم وی چی زه کامیاب شوم،ځکه چی الله فرمائی چی لویه پیروزی همدا ده چی ته د خپل مال او نفس په قیمت د خدای په لاره کی وجنگیږی او دا دخدای لپاره وقف کړی په دی خاطر هغوی دخدای پر فیصلی باور درلود او د خدای په لاره کی مرگ ئی د ځان لپاره لوی بری او پیروزی گڼله ، و ما حیات الدنیا الامتاع الغرور" د دنیا ژوند ندی مگر د دوکی وسیله . انسان دوکه کوی او له خپلو اوچتو اوچتو اهدافو نه ئی لری کوی . دنیا ورته ښایسته او مزین شی . پدی ترتیب دوکه شی او د خدای په لار کی ئی په زړه کی له مرگ نه ویره او خوف را پیدا شی .

زما وروڼو! تاسی خبر یاست چی پرون د پاکستان جمهور رئیس جنرال محمد ضیاالحق د خپل گڼ شمیر نورو جنرالانو په گډون د طیاری د یوی دردناکی پیښی په ترڅ کی په شهادت ورسید . حقیقت دا دی چی دا پیښه هم پاکستانی ملت ته او هم افغان ولس ته یو ستره ضایعه ده . پدی کی هیڅ شك نشته چی مرحوم ضیاالحق د خپل قاطع او شجاعانه مواقفو په وجه په افغان جهاد کی ډیر ستر نقش درلود . پدی دریغ کی چی پاکستانی ولس ۲،۵ ملیونه افغانی مهاجرینو ته پناه ورکړه او د هند له فشار او د روسانو له تخریب او تهدید سره سره ئی د افغان مجاهدینو ملاتړ پرینښود مرحوم ضیاالحق لویه برخه درلوده . موږ د دی پیښی له

امله خواشيني يو ، او له پاکستاني ولس سره پدی غم کی شريك يو . موږ دا يواځی د پاکستانی ولس لپاره ضايعه نه گڼو بلکی افغان مجاهدين او مهاجرين هم له خپلو پاکستانی وروڼو سره په دی غم او درد کی شريك دی دا افغانانو ته هم يوه لويه ضايعه ده . موږ په دعا سره دا مطالبه لرو چی الله ج دی دا خاليگاه په يوه صالح قيادت ډکه کړی . او حقيقت دا دی چی د مرحوم ضياالحق شهادت د ټول امت لپاره ستره ضايعه ده خدای ج دی جبران کړی .

وروڼو ! موږ په الله بروسه کړی او دهغه په بروسی او اعتماد مو دا جهاد پيل کړی . له الله نه را لاندی په دنيا کی په هيچا بروسه او توکل نلرو او چی هر څوك زموږ سره مرسته کوی او زموږ په نسبت همدردی لری، موږ هغه دالله لورينه او احسان گڼو . د زړونو مالك هغه دی او هر څه د هغه په اختيارکی دی، هغه مالك الملك دی ، فيصلی هغه صادروی ، د امورو عاقبت او انجام هغه ټاکی دچا مرسته هغه کوی ، له هغه پرته څوك نصير او پشتيبان نشی موندلای « و ما لكم من دون الله من ولی ولا نصير » له الله نه پرته بل ولی او نصير نشته موږ له الله نه پرته په بل هيچا او هيڅ شی توکل او بروسه نلرو او زموږ جهاد به د پخوا په شان د الله په مرسته او بروسه روان وی ـ الله ځان ته کافی گڼو « حسبناالله ونعم الوکيل » الله زموږ لپاره کافی دی او هغه بهترين وکيل دی که په پاکستان کی د دی لپاره شرايط برابر شوی چی پاکستانی ولس ۲،٥ مليونه مهاجرين په خپله غيږ کی ومنی او دلته د جنرال محمد ضياالحق په شان قاطع او زړور مشران په ټول جرئت سره د افغان جهاد ملاتړ وکړی دا د الله د احسان او پيرزوينی مظاهر دی که موږ په رښتيا د خدای لپاره اوچت شوی يو او په هغه مو بروسه او اعتماد وی هغه به هيڅکله موږ په ميدان يواځی نه پريږدي . د پاکستان جمهور رئيس په تدريج سره له افغان جهاد سره خپله مينه او تعلق زيات کړی د هغه په علاقه کی په تدريج سره زياتوالی راغلی په وروستيو شپو ورځو کی خو حتی دی حد ته رارسيدلی و چی کله به ئی د افغان مجاهدينو د قربانيو، فتوحاتو ، ميړانی او همت ياد کاوه نو سترگی به ئی اوښلنی شوی او په مخ باندی به ئی د اوښکو څاڅکی راښهيدل ـ چی دی له افغان مجاهدينو سره د هغه د صميمانه او د زړه له کومی تعلق او مينی نمايندگی کوله، تر دی حده پوری چی حتی غربی آژانسونو په مسلسل ډول متهم کاوه چی اوس ضياالحق په افغانستان کی د بنيادگرايانو اسلامی حکومت غواړی پدی وروستيو شپو ورځو کی په پراخه پيمانه تبليغات کيدل، موږ پدی خاطر هم له الله نه ددی تمنا لرو چی خدای دی هغه زموږ د شهيدانو په قطار کی ونيسی ، لوی خدای ج دی ورته د گناهونو مغفرت وکړی او خدای ج دی خپل وسيع رحمت د هغه پر حال شامل کړی او هغه دی د قيامت په ورځ زموږ د سنگرونو د شهيدانو په صف کی حساب کړی، پاکستانی ولس ته دی خدای ج نيك عوض ورکړی ، زما اميد دا دی چی دا خاليگاه په يوه صالح او مومن قيادت، کوم څه ته چی نن پاکستانی اولس او دا منطقه تر هر څه زيات ضرورت لری ډکه شی. پاکستان چی نن په کومو شرايطو او ظروفو کی ژوندکوی او دا منطقه چی له کومو حالاتو سره مخامخ ده دا په پاکستان کی يوه قاطع، زړور او مومن قيادت ته ضرورت لری . زما اميد دا دی چی الله ج دی پاکستان ته همدغسی صالح ، مومن ، قاطع او زړور قيادت ور په برخه کړی

زما بله خبره داده ، چی لله الحمد نن د افغانستان جهاد چی د کاميابی په درشل کی دی او دښمن ته وروستی گذارونه ورکوی هره ورځ ستر ستر فتوحات تر لاسه کوی ، هومره فتوحات او انتصارات چی زموږ په لس کلن جهاد کی مثال او نظير نلری ، په دا تيره هفته کی د يوی هفتی په منځ منځ کی د تخار ولايت مرکز آزاد شو، د ينگی قلعه او خواجه غار ولسوالی فتح شوی ، د کندوز ولايت مرکز فتح شو، امام صاحب ، خان آباد او علی آباد يو په بل پسی فتح شول او اوس د مجاهدينو تر تسلط لاندی دی . په دی ټولو منطقو کی اوس د مجاهدينو بيرغ رپيږی د شکردری ولسوالی فتح شوه ، د شکردری د راکټ لوا فتح شو . د سړك په امتداد ټولی پوستی د مجاهدينو په لاس کی ولويدی، دا صرف د دغو څو شپو ورځو فتوحات دی چی د مجاهدينو په برخه

شوی.په اسمار باندی سخت جنګ روان دی پدی جنګ
کی هم زموږ یو مشهور قومندان ، د قوم یو مخور
مشر حاجی حبیب نبی د معلم صاحب ګل زرین والد
سره له څو نورو وروڼو په شهادت ورسیدل . هغه هم
د قوم یو مخور مشر و . او په منطقه کی زموږ تر
ټولو اعتمادی قومندان و . هغه په لړیو مورچلو کی
د دښمن په خلاف جنګیدو او څو لحظی د مخه چی
هغه په شهادت ورسیږی د مخابری په ذریعه ئی
مرکز ته اطلاع ورسوله چی موږ مخ په وړاندی روان
یو خو زموږ مورچل د توپونو تر سخت اور او
انداخت لاندی دی بس دا د هغه وروستی خبره وه او
څو لحظی وروسته په شهادت ورسید .په"چغه سرای»
باندی د مجاهدینو بریدونه روان دی او تر محاصری
لاندی دی دشیګل ټوله منطقه فتح شوه په شیګل کی
چی څه پوستی وی هغه مجاهدینو ونیولی او په دی
کی بی حسابه وسلی هم مجاهدینو ته په لاس ورغلی دا
اوس د نورو ګڼ شمیر وسلو په شمول دری ټانکونه
هم تیار او روغ رمټ د مجاهدینو په لاس کی دی.له
کندوز او بغلان څخه چی‌کله روسی فوځونه ووتل او د
کیلګی په لوی مرکز کی راغونډ شول الحمدلله په دی
اثنا کی مجاهدینو په کیلګی حمله وکړه او د راکټونو
د انداخت په نتیجه کی د دښمن سلاح کوټ منفجر
شو او روسانو ته بی حسابه تلفات واوښتل ، د
څلورو نه تر اوو پوری الوتکی ختمی شوی،ګڼ شمیر
ټانکونه او بی حسابه روسی افسران او عسکر په قتل
رسیدلی"دشپی له لسو تر یولسو بجو په دی عسکری
مرکز کی یو په بل پسی انفجارات روان و او د اور
لبی اوچتی وی

حالات ښیی چی روسان به انشاءالله حتی .له تقسیم
اوقات نه دمخه له افغانستان څخه وځی او د نجیب
حکومت به هم مخکی لدی نه چی روسی فوځونه خپل
انسحاب بشپړ کړی نسکوریږی .

موږ ګمان نه کاوه چی روسی فوځونه دی له شمال نه
هم په اوله مرحله کی ووځی د روسانو پلان دا وو چی
له شرقی ، جنوبی او جنوب غربی ولایتونو څخه په
لړی مرحله کی خپل فوځونه پداسی شکل وباسی چی
په جزئی ډول انسحاب وکړی د خپلو فوځونو کم کم
شمیر وباسی او ټول واحدونه په یو ځل ونه باسی ،
بلکه د هر واحد ځینی قطعات وباسی ولی هغوی
مجبور شول چی په خپل پلان کی تجدید نظر وکړی
او لدی ولایتونو څخه خپل ټول فوځونه په بشپړه
توګه وباسی . اوس له شرقی،جنوبی او جنوب غربی
ولایتونو نه روسی پوځونه ټول وتلی ، د هغوی پلان
دا وه چی له شمال نه به په وروستی مرحله کی خپل
پوځونه باسی ولی اوس له بدخشان ، تخار کندز او
بغلان نه هم روس وتلی ، دا ښیی چی روس ډیر په
عجله کی دی ، او غواړی چی ډیر ژر له افغانستان
څخه خپل پوځونه وباسی . موږ د مخه هم ویلی و چی
که کله روسی پوځونه له افغانستان څخه خپل وتل
پیل کړی ، یو شمیر پوځونه ووځی بیا هغه له
عسکری لحاظه دی ته مجبور دی چی پاتی پوځ هم
ډیر ژر وباسی، ځکه لدی نه پرته به دهغوی تلفات
اضافه کیږی بیا هغوی په نیمائی پوځ د مجاهدینو په
وړاندی مقاومت نشی کولای بیا به هغه صورت کی د
هغوی تلفات اضافه کیږی او په دی ډول هغوی مجبور
دی د خپلو تلفاتو د مخنیوی لپاره پاتی پوځ هم ژر
او په سرعت او عجلی سره له افغانستان څخه وباسی
او دا دی همداسی وشول معلومیږی چی روسان به
انشاالله له تقسیم اوقات نه دمخه خپل ټول پوځونه
له افغانستان څخه باسی خو دا په د ی خاطر نه چی
هغوی د ژنیو معاهده امضا کړی بلکه پدی خاطر چی
له عسکری لحاظه ئی ماته خوړلی او له وتلو نه پرته د
ځان لپاره بله لار نه وینی خپل خیر په همدی کی
لټوی چی ژر افغانستان پریږدی لکه چی موږ ویل د
روسی پوځونو د وتلو نه وروسته د نجیب حکومت د
مجاهدینو په وړاندی مقاومت نشی کولای دا دی نن
دجنګ حالات په صراحت زموږ همدا خبره ثابتوی او
روسان پخپله هم پدی اعتراف کوی چی که موږ خپل
پوځونه له افغانستان څخه وباسو نو بیا دنجیب
حکومت د مجاهدینو په وړاندی مقاومت نشی کولای
داسی معلومیږی چی روسان اوس نجیب په یوی بلی
نوی څیری بدلول غواړی دا نړه پرزه هم باید د
ببرك په شان یوی خوا ته او تعویض شی
"شواردنادزی"په همدی خاطر کابل ته راغلی چی هغه
له زیات شمیر مسئولو کسانو سره په کابل کی تفاهم
وکړی او وګوری چی د نجیب په عوض بله مناسبه

ځیره څوك دي.شواردنادزي ته څو طرحي وړاندي شوي ، خلقيانو دا طرحه ورکړه چي يا ډاکټر شاه ولي راولي او يا گلاب زوي ، شاولي د تره کي د دور د صحيئي وزير او د امين په وخت کي د بهرنيو چارو وزير وټاکل شو او د ببرك په وخت کي زندان ته ولاړ گلاب زوي وزير داخله ؤ او په دي وروستيو شپو ورځو کي ماسکو ته وتښتيده هغه او يعقوبي دواړه پټ شول؛ دي ماسکو ته ولاړ او داسي معلوميږي چي يعقوبي په کابل کي د روسيي سفارت ته پناه وروړي وي.دوی دواړه نيول کيدل او په دي متهم و چي په ارگ کي چي کوم انفجار وشو په هغه کي دوی دواړو لاس درلود،هغه د شواردنادزي سره بيرته کابل ته راغي اوس د خلقيانو پيشنهاد دادي چي نجيب د دي دوو کسانو په يو کس بدل کړي که له ملکي کسانو څوك راوړاندي کوی نو ډاکټر شاه ولي راوړاندي کړي او که له عسکری کسانو څخه څوك غواړي نو بيا گلاب زوي راوړاندي کړي .

د ځينو نورو روسي مشاورينو او افغاني افسرانو پيشنهاد شواردنادزي ته دا دي چي جنرال عبدالقادر راوړاندي کړي کوم چي د تره کي په کودتاه کي اصلي نقش درلود لو د نجيب په دور کي بهرته د سفير په توگه وليږل شو او بيا د خيانت په تور له سفارت نه هم منفك شو . او دريمه طرحه د مخلوع پاچا له لوري وړاندي شوي چي هغه هم دوه کسان وړاندي کړي ، يو د هغه له پخوانيو صدراعظمانو څخه يو صدراعظم او يو هم د هغه د پارلمان له غړو څخه يو کس . معلومه نده چي روسان به کومي طرحي ته ترجيح ورکوي خو داسي معلوميږي چي شايد روسان اوس د کمونيست حزب له منځ نه څوك راوړاندي نکړي،څوك چي په افغانستان کي د کمونيست په عنوان مشهور وي شايد هغه رلوړاندي نکړي ځکه هغه د پاتي کيدو ډير کم چانس لري ممکن هغو ی همدغسي بيطرفه کسانو ته ترجيح ورکړي چي په هغوی سره"په خپل گمان" د ملت ځيني برخي هم قانع کړي ، له مجاهدينو نه هم څه کسان د هغوی خواته ودروی او غرب هم راضي کړی او اصلاً دا توطيه له غرب سره د تفاهم په نتيجه کي را منځ ته کړی .

ما ته له څو خبرونه ددی احتمال قوی معلوميږی لوموړی داچي کله چي‌دروسي پوځ يو جنرال دا وائي چي زموږ د پوځونو له وتلو نه وروسته د نجيب حکومت د مجاهدينو په وړاندي نشي تم کيدلای ددی معني دا ده چي هغوی په حکومت کي د څه تبديلي راوستلو فيصله کړی ده دا امکان نلری چي يو عاليرتبه روسي جنرال دی د يوی نازکي او پيچلي مسئلي په باب داسي آزادانه نظر څرگند کړی چي که روسي پوځونه ووځي نو د نجيب حکومت نشي پاته کيدای . ددی خبری معني دا ده چي اوس هغوی د خپلو پوځونو د ايستلو لپاره ذهنيتونه برابروی . تر څو خلکو ته دا وښيي چي که موږ نجيب پر يوی بلي پرزی او ځيری بدل کړی نو هغه يو طبعي او مبرم ضرورت ؤ دا زموږ د پوځ د مشاورينو د ځيړونو نتيجه وه چي د نجيب حکومت نشي پاته کيدای او بايد تعويض شي ، د کوردويز له طرحي نه ماته دا معلوميږی چي دا د يوی"بی طرفي" ځيری رامنځ ته کولو پلان دی . کوردويز نشي کولای چي دماسکو او واشنگتن له موافقي پرته په جرئت سره د افغانستان په ځير د يوی حساسي مسئلي په باب دغسي يو طرحه وړاندي کړی . هغه چي د بی طرفه حکومت طرحه وړاندي کړی معني ئی دا ده چي له مسکو نه ورته دا خبره تفهيم شوی چي روسان هم په افغانستان کي د يوه بی طرفه حکومت پر تاسيس موافقه لری . دا چي دا حکومت به څنگه جوړيږی د دی ډير احتمالات شته . له هغو نه يو احتمال چي غور هم پری روان دی او افواهات ئی خواره شوی دا دی چي د کندهار والی جنرال «علومی » به د يوی مانوری په توگه يو عسکری اقدام کوی بيا به له مجاهدينو سره د يو ځای کيدو اعلان کوی ، ځيني ډلي او قوماندانان به ئی خواته ودريږی او بيا به لويه جرگه رابولی بيا به دا لويه جرگه ددی فيصله کوی چي مخلوع پاچا بيرته افغانستان ته راستون شي،پدی باب زموږ معلومات دا دی چي څه اقدامات هم شوی دی . دکندهار د شاوخوا ځيني پوستي د کندهار ځينو تش په نامه قوماندانانو ته سپارل شوی دی او پدی رابطه نور کار هم روان دی ولی زه مطمئين يم چي دا ټولي توطيي ناکام کوششونه دی او دا به

همداسی شنډیری لکه تر اوسه پوری چی ددی لسو کالونو په دوران کی د دښمن هره توطیه خدای شنډه کړی ده دا ناکام کوششونه او ناکامی تجربی تکرارول دی په دی ترتیب د افغان مجاهدینو د اسلامی مقاومت مخه څوك نشی نیولای،دا د غنی ځالی ته ورته دام دی چی په هیڅ توگه زموږ د با ایمانه مجاهدینو مخه نشی نیولای او دا به انشاالله ډیر ژر او په ډیره اسانی سره شنډیږی د افغانستان مسئله فقط د حل یوه لاره لری او هغه دا ده چی روسی پوځونه بلاقید او شرطه له افغانستان ځخه ووځی او پریږدی چی افغان ولس خپل سرنوشت په خپله وټاکی.له دی نه پرته د افغانستان د مسئلی بل هیڅ حل صورت نشی نیولای ، له دی وروسته پر افغان ولس د یوه تپلی مزدور حکومت منل امکان نلری هیڅوك نشی کولای چی له بهرنه پر افغان ولس د خپلی خوښی حکومت تحمیل کړی ، اوس که په افغانستان څوك جکومت کولای شی نو د مجاهدینو په خوښه او موافقی به ئی کوی،د مجاهدینو له موافقی پرته که څوك غواړی چی په افغانستان حکومت وکړی ، نو کم له کمه باید اولس فرقی پوځ د هغی د مرستی لپاره له بهر نه مداخله وکړی او هغه به هم په هومره افغانستان باندی حکومت کوی لکه پدی وروستیو شپږ و کی چی نجیب وربانذی تسلط لری تردی نه پ یات افغانستان باندی حکومت نشی کولای.نجیب د اولس فرقو له مرستی او کومك سره سره ونشو توانیدلای چی په لس فیصده افغانستان باندی مسلط شی ، چی بل څوك هم راځی هغه به همدومره بهرنی پوځ ته اړ وی او بیا به هم په دومره محدوده فیصدی پر افغانستان حکومت کوی لکه

نجیب . زموږ انتظار خو دا و چی روسانو دی اوس لدی لس کلن جنگ نه دا تجربه اخیستی وی او پوه شوی دی وی چی په افغان ولس له بهر نه د مزدور حکومت تحمیلول ممکن نه دی . خو معلومیږی چی کافران ډیر کودن او احمق دی ! ځکه چی قران فرمائی« فهم لایفقهون » فهم لایعلمون » فهم لایشعرون » اولئك کل انعام بل هم اضل » د حیوانانو په شان او تردی نه هم بدتر او گمراه تر ، همداسی معلومیری چی هغوی له دی لسو کلونو جنگ نه هم لا تر اوسه کافی درس نه دی اخیستی ، په کار خو دا وه چی روسانو دا اعلان کړی وای چی بس اوس موږ خپل پوځونه باسو دا د تیرو حکومتونو غلطی وه دا دبریژنیف غلطی وه ، موږ خپله غلطی جبرانوو ، خپل پوځونه پرته له قید او شرط نه له افغانستان ځخه خارجوو ، کوم مزدور رژیم هم چی د دغو پوځونو په زور پر افغانستان تحمیل شوی ، ددی ټغر هم ټولوو،افغان ولس ته موقع ورکوو چی هغه دی خپل سرنوشت په خپله وټاکی ، ولی گورو چی روسان ددی پر ځای اوس کوشش کوی چی له نورو طرفونو سره د سازش په نتیجه کی په افغانستان کی داسی حکومت جوړ کړی چی د دوی رأیه او خوښه هم پکی دخیله وی خو زه په ټول جرئت او اطمینان سره دا اعلانوم چی انشاءالله ددی امکانات نور د تل لپاره ختم شوی . په افغانستان کی فقط یو حکومت راتلای شی چی هغه د مجاهدینو د خوښی اسلامی حکومت دی لدی نه پرته بل څوك په افغانستان حکومت نشی کولای .

وأخردعوانا ان الحمدلله رب العالمین

گورباچف در مراسم تدفین برژنیف با کلمات تهدید آمیز جنرال محمدضیاءالحق رئیس جمهور شهید پاکستان را مخاطب قرار داد گفت : اگر به کمک‌های تان با مجاهدین افغانستان ادامه بدهید منتظر نتایج اعمال تان باشید ، ضیای شهید با جرأت وشهامت خاصی گفت : ما مسلمانیم و همکاری با برادران مسلمان جزء دین ما است ، درین راه بجز خدای بزرگ از هیچ کس ترسی و هراس نداریم .

کنفرانس مطبوعاتی برادر حکمتیار در اسلام آباد به‌مناسبت شهادت جنرال محمد ضیاءالحق شهید

«حاکمیت یک حکومت اسلامی درافغانستان یکی از اهداف عمده صدر ضیاءالحق بود» این جمله را امیر حزب اسلامی افغانستان انجنیر گلبدین حکمتیار در مصاحبهٔ تیلفونی یی‌که شب «۲۰-۲۱-۲» اگست با مدیر هفته نامه تکبیر داشت اظهار نمود. انجنیر حکمتیار در همان روز که به خاطر اشتراک در مراسم تدفین جنرال ضیاءالحق به اسلام آباد رفته بود، این حادثه را برای جهاد افغانستان و عالم اسلام یک ضایعهٔ بزرگ خواند. هم چنان شهادت او را یک شهادت روشن و معتبر خواند.

سوال : این حادثه بر جهاد افغانستان چی اثراتی خواهد داشت ؟

جواب : شکی نیست‌که جنرال ضیاءالحق شهید در حمایت ، تایید و معاونت از جهاد افغانستان نقش بسزایی داشت ، برای زیادتر از سه ملیون مهاجر پناه‌دادن ، ده سال متواتر پشتیبانی او از جهاد و صبر واستقامت او درمقابل تمام توطئه‌ها و انفجارات عمال بیرونی یکی از برازنده‌ترین خصوصیتهای او بود .

در این جا شکی نیست که او در تسریع جهاد افغانستان رول عمده و بنیادی‌یی را بازی کرد . **با شهادت او من از چنان یک دوست مخلص مؤمن و دلیر خود محروم شده‌ام‌که پیدا کردن دوستی مانند او مشکل است .** انشاءالله جهاد ما به همان شکل سابقه‌اش جاری خواهد ماند. اکنون جهاد ما وارد مرحله‌یی شده است‌که هیچ حادثه‌یی درجهان از شدت او کاسته نمیتواند و نه در راه پیشبرد آن واقع شده میتواند .

بعد از ده سال جنگ متواتر فعلاً جهاد در مرحله‌یی قراردارد که هیچ حادثه‌یی در پیروزی محتوم او سد واقع شده نمیتواند . و اثرات آن هم نسبت به سالهای گذشته روز بروز اضافه‌تر شده میرود .

سوال : به ارتباط جهاد افغانستان به گوشه‌یی از کارنامه‌های جنرال محمد ضیاءالحق شهید روشنی بیاندازیدکه تا حال مردم آنرا نه شنیده باشند؟

جواب : آزادی افغانستان و ساختن حکومت مجاهدین یکی از آرزوهای جنرال محمد ضیاءالحق شهید بود. تعلق قلبی او با جهاد از انتهای محبت او سرچشمه گرفته بود . و این محبت او روز به روز اضافه‌تر شده میرفت . من با او ملاقاتهای زیادی انجام داده‌ام اکثراً چنان واقع میشدکه ملاقات بعد از نماز خفتن الی بعد از نماز صبح ادامه پیدا میکرد. در خلال ملاقاتهایم با او این نکته را دریافتم‌که او جهاد افغانستان را مسأله خود میدانست. بارها چنان واقع میشدکه ذکری از قربانی یا شهادت‌ها و کامیابی‌های مجاهدین به میان می‌آمد، چشمان او اشکبار می‌گشت .

مسأله افغانستان را یک مسأله محض سیاسی و یا سفارتی نمیدانست، بلکه تعلق قلبی او با جهاد افغانستان بالاتر از تعلقات سیاسی و مصلحتهای دنیوی بود .

سوال : فکر میکنیدکه در شهادت او «خاد» یا «ک جی بی» دست داشت، در این باره چی می‌گویید ؟

جواب : جای شک نیست که شخصیت ضیاءالحق برای دشمنان پاکستان ، جهان اسلام و جهاد افغانستان یک سد بزرگ بود . و در شهادت او دستهای ناپاك آنها ملوث است و احتمال قوی این میرود که «ک جی بی» بخاطر تکمیل‌اهداف شومش‌دست به این عمل زده باشد.

سوال : به ارتباط جهاد افغانستان خدمات او را چگونه ارزیابی میکنید و با شهادت او کدام خلایی در رابطه با جهاد افغانستان محسوس میکنید یا خیر ؟

جواب : خدمات او در رابطه با جهاد افغانستان بسیار بزرگ و فراموش ناشدنی است. ملت ما او را شهید جهاد افغانستان میخوانند، و هرفرد ملت ما در این غم ، خود را شریک مردم پاکستان میداند. با شهادت او برای جهاد افغانستان وملت پاکستان چنان خلایی به وجود آمده است‌که جبران آن کار مشکلی است . **شهادت او یک ضایعهٔ بزرگ است و حالات وخیم و نازک منطقه این‌کمبود و خلا را زیادتر محسوس میکند . من آن روز را فراموش نمی‌کنم‌که جنرال محمد ضیاءالحق شهید در یک کنفرانس بین‌المللی از جهاد افغانستان با قاطعیت دفاع کرد ، و جهاد افغانستان را جنگی به خاطر دفاع از پاکستان و عالم اسلام خواند. من شهادت او و رفقای او را برای تمام ملت پاکستان تعزیت میگویم. شهادت او برای ما چنان غم‌انگیز است که برای ملت پاکستان است. این یکی از آرزوهای او بود که یک افغانستان آزاد و اسلامی‌را ببینند و انشاءالله مجاهدین افغانستان این آرزوی او را به سر خواهندکرد . او به خاطر جهاد افغانستان جان خود را فدا کرد . و ما هم به خاطر بر آوردن این آرزوی او جان خود را فدا خواهیم کرد . من امیدوارم‌که حکومت فعلی پاکستان پالیسی خود را به شکلی عیار بسازد که جنرال محمد ضیاءالحق شهید تعیین نموده بود . خلای پیدا شده از شهادت جنرال ضیاءالحق در مدت بسیار درازی آن هم با تبارز شخصیتی چون او از میان برداشته خواهد شد . من بار دیگر برای خانواده ضیاءالحق شهید و تمام ملت پاکستان اظهار تعزیت و تسلیت مینمایم و دعا میکنم‌که خداوند پاك تربت آنها را از نور منور بسازد .**

* * *

ای خدایه ! زه گواهي ورکوم

ژباړن،محمدنعیم "تابش"

ای الله ! زه دې ډېر حقیر ، کمزوری ، گناکار ، عاجز او ناتوان بندهیم .

ای خدایه ! د خلکو د زړه د تل نه خبرلـه یم او د هغو په وطن د خبرېـدا توان نلرم ، د زړونو پـه حال پوهیدلو ، په هغو کې د پټو غوښتنو ، هیلو ، په ښواو ناوړه غوښتنو ، تصمیمولو او آرزوګانو بالـدی پوهیدل یوازی او یوازی ستا ځانگړی صفت دی .

ای د عزت څښتنه ! زما لظر یوازی ځرگند او ښکاره شیونـه لیدای شي ، د علم او پوهې کښت دلید لنډون او هیره له ماسره مل او غرالـض او احساسات می پـه ختته کې ګډ شوی دی .

خو ـ لدی لیمګړتیا وو سره ستا امر دی چي :

ای د ایمان څښتنالو په عدل او انصـاف بـالدی ټینګ او د خدای جل جلاله لپاره گواه اوسی که څه هم ستاسی گواهي او انصاف ستاسی د ځـان ، مور او پلار او نورو خپلوالو په خلاف هم وی .

د معاملی غوښتونکی که شتمن او که محتاج ، خدای جل جلالـه د هغوی لپاره د تاسوله ځوره خیر غوښتونکی دی . د خپـل لفس د غوښتنو د پـوره کـولو لپاره د عدل او انصاف له لیښته مه اختیاروی که دا شان گواهي کې ژبه واړوی او د رښتینولی ته ځان وژغوری وپوهیږی چي ستاسی په کړو بالدی خدای خبر دی .

«لساء : ۱۳۵»

ای خدایه ستا هدایت داسی دی چي :

د یوی ډلی دښمن مو دومره په غصه لکړی چي د انصاف له موو باسی ، انصاف کوی انصاف د خدای جل جلاله ښځه ویری ته زیاته نژدی خبره ده .

«سورة المـائده : ۸۰»

و بالاخره یکی از بزرگترین افتخاراتی که میتوان برای شهید ضیاء الحق بر شمرد اینست که وی با دفاع مخلصانه خویش از جهاد افغانستان و بیرون‌کشیدن این مسئله از چهار چوب تنگ ملحوظات ومصالح ملی ، نشان داد که دنباله رو صادق همهٔ آن مسلمانانی بوده است که در طول تاریخ درد هر مسلمانی قطع نظر از مسایل رنگ و خون و خاک و زبان . . . را درد خود می‌دانسته اند .

کارنامهٔ درخشان وی، در خدمت به وحدت مسلمین را تاریخ هرگز بفراموشی‌نخواهد سپرد و او وارث بالاستحقاق آنانی بود که روزگاری بر سقوط خلافت عثمانی اشک ریختند و ملیت پرستی را شبیخون برحصار اسلام دانستند .

ضیاء الحق تجلی همهٔ امیدهایی بودکه مسلمانان هند در طول دورانی بس طولانی آنرا در دل پرورده بودند گوئی روح همهٔ آن آرمانهای بزرگ در ایمان وی حلول کرده بود ولی افسوس که زمانه بروی جفا کرد و قدرش را بدرستی نشناخت !

روانش شاد باد

محمد رحیم «خنجر»

د جنرال محمد ضیاءالحق شهادت او د نړیوالو د غمرازی پیغامونه

١- مهاجرین او افغانی مجاهدین د شهید جنرال محمد ضیاءالحق په مړینه ډیر غمجن دی ځکه هغه یو ستر اسلامی لارښود ؤ او له افغان مجاهدینو سره په ټولو دردونو کی شریک ؤ خدای بښلی جنرال محمد ضیاءالحق نه یوازی یو سترسیاست پوه ؤ بلکی د اسلامی امت لارښود هم ؤ هغوی د افغانستان په شخړه کی له مونږ سره زیات تکلیفونه وګالل او د یوه ستر مادی ځواك په وړاندی ئی هیڅکله خپل سرټیټ نکړ د افغانستان خلک او افغانی مجاهدین به د افغانستان په جهاد کی د محمد ضیاءالحق شهید د قدر وړ خدمتونه هیڅکله هیر نکړی .

«ګلبدین حکمتیار د افغانی مجاهدینو لارښود»

٢- افغانی مجاهدینو خدای بښلی جنرال محمد ضیاءالحق ته د افغانستان د جهاد په لړی کی د قدروړ خدمتونو له امله د زړه له کومی د عقیدت پر زوینی وړاندی کړی او هغه‌ئی د افغانستان د جهاد شهید وباله

«برهان الدین ربانی»

٣- جمهور رئیس محمد ضیاءالحق چی د اسلام لپاره کوم خدمتونه کړی د اسلامی امت په تاریخ کی به په زرینو کرښو ولیکل شی په پاکستان کی د شریعت د نفاذ لپاره د هغه خدمتونه په اسلامی نړی کی ساری نه لری هغه یو صادق مسلمان ؤ او د اسلام د سرلوړی لپاره ئی هره ګړی کوښښ کاوه د شهادت مرګ‌ئی په برخه شو اسلامی نړی به‌ئی هیڅکله هیر نکړی .

«د کعبی امام ابن السبیل»

٤- مونږ د خپل وروور جنرال محمد ضیاء الحق او د وروور هیواد د څو تنو منصبدارانو د شهادت په خبریدو بی‌اندازی غمجن شوی یو .

زه د ځان ، سعودی هیواد او حکومت له لوری د مرحوم جمهور رئیس د کورنی او د دغی پیښی د شهیدانو له کورنیو سره د ژور غم او درد ښکارونه کوم او د شهیدانو روحونو ته دعا کوم .

«خادم الحرمین الشریفین شاه فهد بن عبدالعزیز



٥- پاکستان د یوه باصلاحیته او وطن دوست خادم نه بی‌برخی شوی دی . زمانه یو لایق، عالم پوه او هوښیار وروور واخستلی شو پدی کی هیڅ شک نشته چی د پاکستان مسلمان ملت له آزادی نه وروسته دومره باصلاحیته لیډر نه ؤ لیدلی د چا سیاست چی بالله ستره او په رښتیا ولاړو هغه د اوسپنیز عزم او کلکی ارادی څښتن ؤ « سید علی خامنه‌ای د ایران د اسلامی جمهوریت جمهور رئیس»

٦- جمهور رئیس نه یوازی د بنګله دیش دوست ؤ لا چی د پاکستان یو عظیم لارښود هم ؤ ، بنګله دیش خپل یو خیر غوښتونکی او مخلص دوست له لاسه ورکړ چی د بنګله خلک پری ډیر زیات غمجن دی .

«د بنګله دیش جمهور رئیس جنرال ارشاد»

٧- جنرال محمد ضیاء الحق زما مشر وروور ؤ د هغه مړینه د اسلامی نړی لپاره یو ستر نقصان ؤ او مونږ له یوه قدرمن وروور څخه بی‌برخی شوو .

«شاه حسین د اردن پاچا»

٨- مونږ د خپل یو عظیم شخصیت نه بی‌برخی شوو چی تلاپی به بی په ډیره ګرانه کیږی . «شیخ زید بن سلطان النهیان د متحده عرب اماراتو مشر»

٩- جمهور رئیس محمد ضیاءالحق یو عظیم مدبر او پوه سیاست مدار ؤ .

«د ملګرو ملتو د امنیت د سازمان پریکړه»

١٠- هغه یو مدبر او سیاست پوه ؤ او ورته په نړیواله سطحه پراخ عزت او احترام ور په برخه ؤ ماته څو واری د هغه سره یو ځای د کار کولو وخت پلاس راغلی څوواری می د ملګرو ملتو په تالار کی هغه ته ښه راغلاست ویلی او اوس بی هم د راتلو په انتظاروم جمهور رئیس ضیاء په عزم غوره ځیرکتیا او په نړیوالو چارو کی د پوره پوهی له امله زمونږ ارزښتناك او باوری ملګری ؤ د هغه وجود زما لپاره د حوصلو رڼا وه .

«د ملګرو ملتو سکرترجنرال پیریزډیکوئیار»

١١- ما چی کله د جمهور رئیس ضیاءالحق د مړینی خبرواورید دومره ووریدم چی په مرګ می یقین رانه غی ما ته د جمهور رئیس

ضیاءالحق سره څوکرته د کارکولو وخت پلاس راغلی زه د دغه حقیقت شاهدیم چی هغه د خپل هیواد لپاره په ډیره مینه کار کاوه او په نړیوالو چارو کی د هغه پرپوهه رشک کیدای شو هغه زما خانګړی دوست ؤ

«ډیکو کرډوویز د ملګرو ملتو د سکرتر جنرال نماینده»

۱۲- خدای ښبلی جمهور رئیس ضیاءالحق زمونږ دوست ؤ هغوی د افغانستان د شخړی د حل په باب بی‌دریغه کوښښونه وکړل .

«د امریکا جمهور رئیس ریګن»

۱۳- پاکستان د ضیاءالحق د مړینی له امله د یو بی‌اندازی پوه لارښود نه بی‌برخی شو .

« دانګلستان ملکه الزبت»

۱٤- جمهور رئیس د افغانانو په ملاتړ کولو نړیوال تائید او ملاتړ ترلاسه کړی ؤ مرګئی په ډیرو نازکو حالاتو کی واقع شو .

« دانګلستان صدر اعظمه مارګریت تیچر»

۱۵- امریکا له یو ښه دوست نه بی‌برخی شو . «د امریکا د جمهور رئیس مرستیال جارج بوش»

۱٦- جمهور رئیس ضیاءالحق د ښو خو یونو خاوند او یو ایماندار انسان و او پاکستان تهٔی استحکام ورو با ښه .

«سوامی سبرامنیم ، صدر جنتا پارتی د هند»

۱۷- ختیځـزه اسیا له یوعظیم مدبر نه بی‌برخی شوه .

«ګیانی ذیل سنګ د هند د قاری جمهوررئیس»

۱۸- د جنرال محمد ضیاء الحق شهادت د اسلامی نړی ستر زیان دی .

«د مصر جمهور رئیس حسنی مبارك»

۱۹- زه ، زما ښځه او د هسپانیی خلک د جمهور رئیس ضیاءالحق په مړینه غمجن شوی یو مونږ د پاکستان د خلکو په دغه غم کی شریک یو جمهور رئیس ضیاءالحق یو نړیوال لارښود ؤ .

«جوآن کارلوس د هسپانیی پاچا»

۲۰- خدای ښبلی جنرال محمد ضیاءالحق چی د فلسطین د آزادی او د اسلامی نړی لپاره کوم خدمتونه کړی هغه به هیڅکله هیر نکړای شی هغوی ټول عمر د فلسطین د خلکو د مبارزی پوره ملاتړ کاوه او د سیمی د امن او استحکام لپارهٔی بی‌دریغه کوښښونه وکړل . « یاسر عرفات د فلسطین د آزادی د سازمان مشر»

۲۱- جمهور رئیس ضیاءالحق یو عظیم مدبر ؤ د هغه د مړینی له امله زه او د شمالی کوریا خلک ډیر غمجن شوی یو مونږ د پاکستان د خلکو او مرحوم جمهور رئیس له کورنی سره په دغه غم کی سم شریک یو .

«کم ال سنګ د شمالی کوریا جمهور رئیس»

۲۲- د پاکستان او ترکیی د دوارو ورونو هیوادونو اړیکی ډیری پخوانی او ژوری دی جمهور رئیس ضیاء الحق چی د دغو اړیکو د کلک والی لپاره د ترکیی خلکیی د زړه له کومی قدرکوی هغه زمونږ خپل لارښود او ورور ؤ د هغه په دردونکی مړینه د ترکیی په خلکو کی ماتم‌ګډ شو د هغه مړینه د ترکانو خپل زیان دی مرحوم زمونږ ورور او رښتنی دوست ؤ .

«کنعان ایورن د ترکیی جمهور رئیس»

۲۳- د جاپان د بانډیو چارو وزیرسوسوك اوتو د جاپان د پاچا هیروهیتو د جاپان د حکومت او خلکو له لوری د شهید ضیاءالحق په مړینه ډیره غمرازی ښکاره کړه او ویی ویل : چی د هغه په لارښودنه د جاپان او پاکستان اړیکی محکمی شوی د جاپان پاچا د مرحوم جمهور ریس په مړینه د ډیر درد او غم ښکارونه وکړه او ویلی یی دی جاپان د پاکستان سره په دغه غم کی شریک دی .

«هیروهیتو د جاپان پاچا»

۲٤- د خلیج هیوادونو داوو ورځو د ماتم اعلان وکړ او د مرحوم په احترام کی خپل بیرغونهٔی د هغه د تدفین تروخته نیم‌کښښ ؤ .

۲۵- زه د جمهور ریس محمد ضیاءالحق د مړینی له امله ډیرغمجن شوی یم د کاناډا خلک د پاکستانی ورونو سره په دغه غم کی شریک بولم .

«براین ملرونی د کاناډا صدر اعظم»

۲٦- صدر ضیاءالحق د اسلامی نړی عظیم لارښود او ریښتنی مسلمان ؤ د هغه په مرګ مونږ زیات زیانمن شوی یو .

«معمر قذافی د لیبا صدر»

ژباړن : عوض الدین «صدیقی»

پاکستان څنګه جوړ شو

په هندوستان کی د هندی استعمار او مغولی حکومت څخه څوکلونه تیر شوو چی د هند څخه د برطانیائی استعمار لاس پریکړای شو . انګلیسی استعمار کله چی د هند د خپلمنځی شخړو او ځینو اسلامی او غیر اسلامی ګوندونو . (. ع . لیګ «کنګره») په مقابل کی د مقاومت توان ونه لیدلو په (١٩٤٧) یی د هند په تجزیه ، او د پاکستان او هندوستان د دوو مستقلو هیوادونو پراستقلال توافق وکړ .

د هند تجزیه وروسته ، هغه مسلمانان چی د انګلیسی استعمار په دوران کی یی د هندوانو او انګلیسانو زیات ظلمونه لیدلی ؤ . پدی بریالی شوو چی د ځان لپاره د «پاکستان» په نوم یو مستقل هیواد جوړ کړی . د «پاکستان» تاریخ ته کتنه دا ایجابوی چی د هند تیر تاریخ هم وکتل شی .

په هند کی د لومړیو انسانانو ژوند د (٥٠٠٠٠) کال څخه د مخه د پنجاب د دوو سندونو «سند» او «جهلوم» ترمنځ ښودل شوی . د تاریخ په اوږدو کی هند د شپږو نژادونو څخه متشکل ؤ . چی په ډیرو پخوا زمانو کی یی هند ته هجرت کړی ؤ . دی نژادونو د افریقایانو، عربانو، مغولستانیانو، مدیترانیانو او منځنی آسیا د ځینی اوسیدونکو او نور دیکایانو «Nerdics» په ګډون چی په آریایی ژبه یی خبری کولی د هند تولنه جوړوله . چی وروسته یی یولوی تمدن منځ ته راوړ . تاریخ څیړونکی د هندی تمدن قدامت د میلاد څخه (٣٠٠٠) کاله د مخه ښیی .

د هند په تیرو ټولنو کی مذهب تل یو ټاکونکی نقش لوبولی . د هند د تیری او اوس ټولنی مذهب (هندوئیزم) «د هغو افکارو او نظریو مجموعه ده چی په مختلفو پیړیو کی یو د بل ترڅنګ را ټولی شوی او د زیاتو تفاوتونو او بیلګو درلودونکی دی» «هندوئیزم» کوم مشخص بنیالګذار نلری ترڅو د دی مکتب تعلیمات بیان کړی او په پیدایښت کی هم د حضرت محمد ﷺ او حضرت مسیح (ع) په شان شخصیتونو څخه یی برخی ؤ جواهر لعل نهرو د خپلو لیکونو د مذهب په باب وایی : «هندوئیزم د یو اعتقادی مکتب په توګه ګنګ ، مبهم ، غیر منسجم او خوارخه دی چی په سختی سره کولی شو هغه تعریف کړو او یا دقیقاً وویلی شو چی هغه یو دین دی که نه ؟ هندوئیزم په اوسنی او حتی تیر شکل کی د هغو عقایدو سره یوځای ؤ چی په جزئیاتو او کلیاتو کی د یو بل مخالف او حتی چی د یو بل په ضد هم ؤ» .

د دی مذهب د ځانګړو خصوصیاتو ځنی د انسانی او غیر افسانی موجوداتو او زیاتو خدایانو پرستش او همدارنګه د خلکو ویشل د «برهمن» را جامایا» «ویسا» او «سودرا» په څلور ډلو باندی ؤ . چی د هند په تاریخ کی «برهمنایان» د هند خاصه او «سودرایان» د هند ذلیله او خواره طبقه شمیرل شوی .

د داریوش هخانشی په واسطه (٥١٨) د میلاد څخه د مخه د هند د یوی برخی د فتحه کیدو ، او دا سکندر مقدونی د دری کانو یرغلونو (٣٢٧ ، د (میلاد څخه مخه) څخه وروسته د اسلام تماس له هند سره پیل شو . او د لومړی ځل لپاره د راشدینو خلفاً وو په دوران کی د هند دروازه د اسلام پرلور پرانستل شوه .

په هند کی د اسلام د نفوذ وسایل ځینی وخت هغه خلک ؤ چی د تجارت د ندهی درلوده . او ځینی وخت هم نظامی یرغلونه چی د خلفا وو په واسطه اداره کیده . خو وروسته د «بنی امیه» په دوران کی دی نظامی یرغلونو بل شکل غوره کړ . او د ټولو نه مهم هغه یرغلونه وو . چی د «محمد بن قاسم» په قومانده او د «حجاج بن یوسف» په اشاره سرته رسیدل چی د زیاتو بریالیتوبونو د لاس ته راوړلو په ترڅ کی یی د هند په یوه لویه برخه کی د امویانو او عباسیانو د تسلط لاس ته راوړلو لپاره لار پرانستله . دا حملی په حقیقت کی په هند کی د مسلمانانو د حکومت زیری ؤ . چی وروسته د عباسیانو په ضعف سره په هند کی هم د مسلمانانو په نفوذ کی کمی راغی . او ورو وروکوړنی آمرانو سرونه اوچت کړی او هر یوه په یوه ګوښه کی د استقلال جنډه اوچته کړه . او بالاخره د مسلمانانو نفوذ تش د هند په غربی برخه (تسی غربی پاکستان) کی پاتی شو . ترڅو «محمود غزنوی» د بت پرستانو سره د جهاد په توګه د هند خوا ته مخه کړه .

هغه خپل لومړی یرغل په (٣٩٢ هجری) (١٠٠١ میلادی) کی د «غزنی» څخه پیل کړ چی د زیاتو پرله پسی یرغلونو او فتوحاتو څخه وروسته یی د هند «غربی، شمالی، او جنوب غربی» سیمی خپل حکومت پوری وتړلی .

د دی وروسته د «غوریانو» حکومت پیل شو چی ورپسی تیموریانو (مغولانو) په ٩٣٢ هجری قمری (١٥٢٦م) کی خپل حکومت پر هند باندی پیل کړو . چی د مغولانو د مقتدر امپراتور «اورنګ زیب» د مړینی څخه وروسته په (١١١٩هجری) (١٧٠٧م) کی په هند کی د مسلمانانو د ضعف مرحله پیل شوه . او د هند په هری برخی کی یوه امیر د قدرت واګی په لاس کی واخیست او د «هندوانو» او «سیکانو» امیرانو ته دا فرصت په لاس ورغی چی د مرکزی حکومت څخه ځان جلا کړی . او د هند پر مختلفو سیمو باندی خپل حکومت پیل کړی .

په هند کی د زیاتو امیرانو رامنځ ته کیدل ، د حاکم نظام تشتت او ګډوډی ، او د مسلمانانو ترمنځ د شخړو پیدا کیدل ټول هغه عوامل وو چی د انګلیس استعمار د (٢٠٠) کلنی واکمنی سبب شول .

د مرکزی حکومت تر ضعف وروسته په «ختیز هند» کی د انګلیسانو کمپنی چی پر هند باندی د نفوذ لاس ته راوړلو کی یی هندیانو ، فرانسویانو او پرتګالیانو سره رقابت درلود پدی وتوانیدل چی پرخپلو انډیوالانو بری لاس ته راوړی او پرهند باندی د خپلی استعماری سطحی مقدمه پیل کړی .

د امیر سراج الدوله (١١٧٠ هجری) (١٧٥٧ میلادی) او حیدر علی (١١٩٥هـ) (١٧٨١ میلادی) او د هغه مبارز زوی «ټیپو سلطان» او د ځینو نورو اسلامی ډلو مبارزو او کوښښونو ونکړای شوی د انګلیسی استعمار مخه ونیسی . او آخر دا چی «ملکی ویکتوریا» هند دا نګلیس استعمار مستعمره اعلان کړه .

په هند باندی د انګلیسانو د سلطی په دوران کی مسلمانان تل د سختو شکنجو او کړاونو سره مخامخ وو . جواهر لعل نهرو پدی باب وایی : «د (١٨٥٧) کال څخه وروسته انګلیسانو مسلمانان نسبت هندوانو ته زیات ترفشار لاندی ونیول . او دا څکه چی انګلیسانو ، مسلمانان د هندوانو څخه مبارز خلک بلل او پدی تصور وو چی اوس هم د هغوی تسلط پر هند باندی تازه دی او پدی خاطر ورته مسلمانان ډیرخطرناك ښکاریدل»

پر هند باندی د انګلیسی استعمار په تیریدو سره ورو ورو د خلکو مخالفت هم د انګلیسانو په مقابل کی پیدا کیده . او آخر انګلیسی استعمار د دی مخالفت له د مخنوی په خاطر په (١٨٨٥) کال کی د خپل نائب‌السلطنه «لردوفین» په واسطه د هند خلکو د عمومی افکارو د انعکاس لپاره یوه ډله د (هند ملی کنګره) په نوم جوړه کړه .

تر (٢٥) کالو وروسته (١٨٨٥) څخه د دی ګوند د ټولوغوندو پریکړی د انګلیسانو د تاج او تخت سره په وفادارۍ باندی ولاړی وی . او تر (١٩٠٤) پوری د هغوی ټولی غونډی د انګلیسانو لخوا اداره کیدی . د دی ګوند (کنګره) بنیالګذارانو سخته آرزو وه چی د مسلمانانو نمائندګان هم پدی‌ګوندی کی داخل کړی . او دی ګوند ته د هند د ټولو مذاهبو د پیروانو د ګډ ګوند رنګ ورکړی . پدی وخت کی د مسلمانانو سره د «کنګری» په باب دوه نظرونه وو . یوی ډلی دی ګوند ته د مسلمانانو د ورتګ سره سخت مخالفت ښوده او په مقابل کی یی داسی ډله وه چی «کنګری» ته داخلیدل یی ښه کاربالله .

د «کنګره» ګوند هم ورو ورو ځان د انګلیسانو له کنترول څخه ویستو او د یو مستقل استقلال غوښتونکی ګوند په نوم یی خپل کار ته ادامه ورکړه .

د «کنګره» ګوند ترڅنګ د (١٩٠٦) کال د دسمبر په (٣٠) مه نیټه یوه بله ډله د «مسلم لیګ» (د مسلمانانو ټولنی) په نامه ، د مسلمانانو د حقوقو څخه د ملاتړ ، د مسلمانانو او انګلیسانو ترمنځ د فکر د یووالی ، او هم دولتو ته د مسلمانانو د غوښتنو وړاندی کولو په مرامنامی سره رامنځ ته شوه . دی ګوند «مسلم لیګ» چی تقریباً (٢٠) کاله وروسته یی د «کنګره» ګوند څخه په کار پیل کړی ؤ . د کار په لومړیو کی یی دوی په خاطر چی «کنګره» په خلکو کی وسیعه پایګاه لاس ته راوړی وه ونشوای کولای چی

په موفقیت سره مخ ته لاړ شی . اما د مسلمانانو او هندوانو ترمنځ شخړی ، د «کنګره» ګونـد هنـدوګرایی خوا ته زیات تمایل او هم د هندوانـو د افراطی ډلـو پیدایښت چی د هغـوی د مرام لوړی ټکی د هندوئیزم خوا تـه بلنه وه . تـول هغه عوامل ؤ چی د مسلمانانو مخه یی د «مسلم لیګ» خوا ته را ګرزوله .

د دې سره سره د هند په هغه بحرانی حالت کی د ګاندی پیدایښت ، او هغه «ګاندی» د انګلیسانـو سره د مبارزی لپاره یی هندوئیزم د ځان روش ټاکل باعث شوو چـی زیات شمیر مسلمانان «مسلم لیګ» ته داخل شی .

د «مسلم لیګ» او «کنګره» ګوندونو تر ډیرو کلونو د هند استقلال تـه چندان تمایل نه درلوده . او د دواړو ګونـدونو پـه منځ کی ځینی مخالفتونه د استقلال لاس تـه راوړلو په کار کی موجود ؤ . ترځو په (۱۹۳۰) کال کی «کنګری» د هنـد استقلال لاس ته راوړل د ځان هدف وګرځاوه .

«محمد علی جناح» چـی وروستـه یی د « قائـد اعظم » لقب وګاټـه پـه اول کی یی د «کنګره» ګوند عضویت درلوده چی وروسته یی په یوه وخت کی هم په «مسلم لیګ» او هم «کنګره» کی فعالیت کاوه . او پـه او آخـرو کی د «ګاندی» سیاست سره د مخالفت پـه توګـه د «کنګری» څخه جلا شو او د «مسلم لیګ» مشری یی پرغاړه واخیسته . پـدی دوران کی «محمد اقبال» هر وخت په «مسلم لیګ» کی د هند پر تجزیه او د مسلمانانو لپاره د یو مستقل هیـواد پر جوړیدو ټینګار کاوه . چی «جناح» او «مسلم لیګ» تر ډیـره وخته د دی پیشنهاد د منلـو څخه ډډه کوله . مګر د انګلیسی استعمار پـه وروستیو کلونو کی « مسلم لیګ » د « علامه اقبال » طرحـه (د هنـد د مسلمانانـو لپاره د یو مستقل هیـواد جوړیدنه) ومنله .

د «کنګری» ګوند هم چی د ګاندی په مشری د هندوانـو خاص ګوند ګرځیدلی ؤ . د انګلیسانو سره د هنـد د منځینو شخړو د زیاتوالی پـه سبب چی نوری پدی هیواد کی د تسلط قدرت نه درلوده په توافق ورسیده چی وروسته د هند له آزادی څخه د هند یوه برخه کی د مسلمانانو لپاره هم یو مستقل هیواد جوړ کړی .

په (۱۹۴۷) کال کی د هنـد استقلال په لاس ته راوړلـو سره یوځـای هند په دوه برخو وویشل شو . چی هندوستان د هغو سیمو څخه چی اکـثره اوسیدونکی یی هندوان ؤ او پاکستان له دو برخو ، شرق ، برخی (بنګله‌دیش) چی د مسلمانو بنګالیانو د اوسیدنی سیمـه وه . د (۴۲) ملیونه نفوس پـه انـدازه ، او غربی برخی (بلوچستان سند او غربی پنجاب) څخه د (۳۳) ملیونه نفوس په اندازه جوړ شوو .

پدی وخت کی د هنـد له مختلفو سیمو څخه د مسلمانانو هجرت کول پیل شوو چی د مهاجرت په دوران کی د «سیکانو» او «هندوانو» د سخت زور زیاتی سره مخامخ شوو . لندن تایمز د (۱۹۴۷) کال د اکتوبر په (۱۰) مه نیټه د مسلمانانو سره د مهاجرت پـه دوران کی د هندوانو د زور زیاتی پـه باب ولیکل : (۲۳۷۰۰۰) تنه مسلمانان د هجرت په دوران کی د هند او پاکستان په سرحدی پولو کی د هندوانو د زور پاتی له امله وژل شوی دی .

پاکستان په لومړیو ورځو کی د مهاجرینو د ځای پرځای‌کولو ، د ګډو شتمنیو ، ذخائرو او سندونو وویشلو له ستونـزو سربیره د کشمیر مسئلی د حل سره هم لاس او ګریوان وو .

کشمیر چی د (۱۹۴۱) کال پـه اټکل د (۴) ملیونـه نفوس له جملی ځینی د ۷۷ فیصدو مسلمانانو څخه برخمن ؤ . د «جهلوم» او «لیزس» سندونو په درلودلو سره د خاص سوق‌الجیشی موقعیت څخه برخمن شوی ؤ . .

ګرچی پـه لومړیو کی ټاکل شوی ؤ چی هغه سیمی چی مسلمانان پکښی اکـثریت لری په پاکستان پوری تعلق ونیسی . اما هند د دی خبری په را وړاندی‌کولو سره چی د کشمیر «هندوی مهاراجه» دا سیمه په (۱۹۴۶) کال کی د انګلیسانو څخه ۷/۵ ملیونه روپیی اخیستی دی او بیایی هند ته پریښی چی دوی وروسته (۱۹۴۷) هم بایـد د هند تر قبضی لاندی وی .

اما مسلمانانـو نشوای‌کولی چی له کشمیر څخه لاس واخلی او د کشمیر آزادولـو په خاطر یی مسلحانه جګړی پیل کـړی . چی هندی پوځ هم د دی حملونه د مخنوی پـه خاطر پـه (۱۹۴۸) کال کی میدان تـه راو دانګل او په نتیجه کی سخته جګړه پیل شوه . چی پـه پای کی د پاکستان پوځ پدی وتوانیدلی شو چی د کشمیر یوه برخه آزاده‌کـړی چی اوس د «آزادکشمیر» پـه نوم یادیږی . مګر وروسته «لیاقت علی خان» د پاکستان د وخت صدر اعظم او «جواهر لعل نهرو» سره توافق وکړو چی بایـد اوربنـد اعلان شی او د کشمیر مسئله د خـبرو له لاری حل شی مګر د کشمیر مسئله تر ننـه هیڅ وخت حل نشوه .

د (۱۹۴۷) کال دسامبر پـه (۱۱) مه نیټـه «محمد عـلی جناح» مړ شو لیاقت خان د حکومت واګی پـه لاس کی واخیست . هغه پـه «۱۹۵۰» کال کی د یوی وینا پـه ترځ کی وویل : که د اسلامی هیوادونو د آزادی کوم پیشنهادوی پاکستان د هغی ملاتړ کوی او د نورو اسلامی هیوادونـو سره یو لاس کیږی «هغه زیاته کړه» که غربی هیوادونه کولی شی سره متحد شی او د ځان لپاره یوه ټولنه جوړه‌کړی او یا کمونیستی هیوادونـه کولی شی سره متحـد شی او د ځان لپاره ټولنـه جـوړه کـړی . ولی موږ مسلمانانو سره ځان متحد نشو کړای ترځو نړیوالوته په ډاګه کړو چی موږ د یوی خاصی ایډلوژی او لاری درلودونکی یو» او بیا یی په یوه بله ویناکی وویل : پاکستان د دی لپاره ندی جوړ شوی چی د نړی پر نقشو یو بل رنګ هم ور اضافه کړی بلکی پاکستان باید د اسلامی اصولو لپاره یو لا براتوار وی» .

بالاخره د (۱۹۵۱) کال د اکتوبر په (۱۶) مه نیټه کله چی لیاقت علی خان په یوی عمومی غونډه کی دریدلی ؤ او غوښتل یی پدی موضوع وینا وکـړی چی «نړیوال بایـد پوه شی چی اسلامی هیوادونـه سره متحد دی » وویشتـل شو او لـه منځه لاړ . د لیاقت علی خان د وژل کیدو څخه وروسته غلام محمد خان د پاکستان د قدرت واګی په لاس کی واخیست . د هغـه د حکـومت پـه دوران کی ؤ چـی د امریکایانو لپاره د پاکستان دروازه پرانستل شوه . په حقیقت کی غلام محمد خان او د هغـه اندیـوالانو (اسکندر میرزا) د تل لپاره د دی خبری په عنوانولو سره چـی هندو روسی سره نـږدی اړیکی لری او پاکستان ناچار دی چی د هند په مقابل کی د امریکا څخه مرسته واخلی خپل امریکائی سیاستونه‌ئی توجیه کول . ترځو په (۱۹۵۵) کال کی غلام محمد خان د جنرال سکندر میرزا په واسطه له مینځه لاړ . او اسکندر میرزا د قدرت واګی په لاس کی واخیست .

«د اسکندر میرزا» د حکومت په دوران کی چی تر (۱۹۶۸) کال پوری یی دوام وکړ پاکستان «دنټو» غـړی هم شو . په همدی وخت کی د هغـه پـه مقابل کی کورنی مخالفتونه زیات شوو او په نتیجه کی جنرال ایوب خان د (۱۹۵۸) کال په اکتوبر کی د قدرت واګی په لاس کی واخیست . ایوب خان ګر چی یوځی جنرال ؤ مګروی‌کولای شوو چی ډیر وخت په پاکستان کی حکومت وکـړی . او په آخر کی د کورنیو کړ کیچونو له امله مجبور شو د (۱۹۶۹) کال د مارچ په (۲۵) مه نیټـه استعفی وکـړی . او د قدرت واګی یی جنرال یحیی خان ته ور وسپاره .

جنرال یحیی خان ددی کړکیچونو د کراروئو لپاره د (۱۹۷۰) کال دسامبر کی غربی او شرق پاکستان په دواړو برخو کی آزاد او سرتاسری انتخابات پیل کړو . «ذوالفقار علی بوتو» په غربی او «شیخ مجیب الرحمن» په مشرق پاکستان کی آرأو اکثریت ترلاسه کـړ . مګر د مجیب‌الرحمن بریالیتوب د غربی پاکستان دمنلوړو نګرځیـده چی د همدی ځای نه د شرق پاکستان د جلاوالی او آزادی اخیستو مقدمه پیل شوه . ګرچی یواځینی شی چی د شرق او غربی پاکستان او سیدونکی یی سره یو ځای کړی ؤ د اسلام مقدس دین ؤ ځکه ددی سیمو (غربی پاکستان ، شرق پاکستان) او سیدونکی په نژاد ، ژبی او فرهنګ کی سره هیڅ یو والی نلری . د مجیب الرحمن اله سیاست (شرق پاکستان آزادی) څخه هند د غربی پاکستان پـه مقابل کی ملاتړ وکړ. او «اندرا ګانـدی» د (۱۹۷۱) کال د مـارچ پـه (۲۸) مه نیټه پـه واضح ډول وویل : «هند د مجیب الرحمن له سیاست څخهٔ ملاتړ کوی ځکه هغه د دیموکراسی او غیر مذهبی حکومت (سوسیالزم) داعی دی» چی د همدی کال په آواخرو کی د هند د نظامی مداخلی په ګډون د شرق پاکستان اوسیدونکو د زیاتو تلفاتو وروسته د «بنګله دیش» په نوم خپل موجودیت اعلان کړ هند لومړی هیواد ؤ چی د «بنګله دیش» موجودیت یی په رسمیت وپیژانده چی د بنګله دیش په آزادی کی د هندوستان مداخلت وروسته د غربی پاکستان او هندوستان ترمنځ د سختی لښتی باعث شو . چی د دی نا کراریو وروسته د (۱۹۷۱) کال دسامبر په (۲۰) مه نیټه «ذوالفقار علی بوتو» د پاکستان واګی په لاس کی واخیستی . هغه پـه امریکا او انګلستان کی د تحصیلاتو وروسته پـه (۱۹۵۸) کال کی پاکستان ته داخل شو . چی په اوایلوکی د تجارت وزیر ؤ او د ایوب خان په دوران کی یی د بهرنیو چارو په وزارت کی دنده سرته رسوله . هغه په (۱۹۶۸) کال کی د خلکو ګوند (پیپلز پارټی) تاسیس کړه او د کوړکنۍ ، ډوډی ، ترشعار او اسلام زموږ دین دی سوسیالـزم زموږ اقتصادی تګ لاره ، دیموکراسی زموږ سیاست دی طرحی په وړانـدی کولو سره یی وکولای شو په پاکستان کی د مبارزی پـه لومړ کی نفوذ لاس تـه راوړی . مګر وروسته د هغه د حکومت په دوران کی د زیاتی فاسدی فضاً په را پیـدا کیده سره پاکستان کی سخت کړکیچونه پیدا شوه او د (۹) ګوندونو ګډی جبهی چی جماعت اسلامی هم د هغوی څنګ ؤ «د بوتو» حکومت پرضد مبارزه پیل کړه . مګر د دی

(۹) گوندونو د گډی جبهې مبارزی څه نتیجه ورنکړه او صدر ضیاءالحق چې یو پوځی جنرال ؤ او د پوځ مشری یې پرغاړه وه په ناڅاپي ډول د یوی کودتا په ترځ کی د «بوټو» حکومت (۱۹۷۷) کال د جولائی د میاشتی په (۵) نیټه له منځه یوړ او د قدرت واگی یې په خپل لاس کی واخیست .

صدر ضیاءالحق چې د جنرالی په دوران کی یو قاطع مدبر او مؤمن شخص پیژندل شوی ؤ . د قدرت لاس ته راوړ او وروسته یې هم خپل پروگرامونه په خو را قاطعیت سره مخ ته بو تلل . هغه «ذوالفقار علی بوټو» اعدام کړ .

د هغه د حکومت دا وړدو په (۱۹۷۹) کال کی روسی پوځونو افغانستان باندی یرغل وکړ . مگر «ضیاءالحق» د روسی یرغلگر پوځ د یرغل په مقابل کی له قاطعیت او میړانی څخه کار واخیست او د افغانستان له مجاهدینو څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ صدر ضیاءالحق د مجاهدینو څخه د ملاتړ په ترځ کی زیات کړ او نه او مشکلات ومنل خو د مجاهدینو له ملاتړ څخه یې لاس وانخست . او د (۱۹۸۸) کال د فبروری د میاشتی په (۹) نیټه یې د یوی وینا په ترځ کی وویل ، د افغانستان مسئله د ټول عالم اسلام مسئله دی . دلته د یو موټی خاوری یا کوم بل مقصد لپاره جگړه نده روانه. بلکی دلته د اسلام د سرلوړی لپاره جنگ روان دی چی دا د پاکستان او افغانستان ملت او د ټولی اسلامی نړی گډه وظیفه ده» .

صدر ضیاءالحق د اسلامی نظام تحقق په پاکستان او ټوله اسلامی نړی د خپل حکومت یواځنی هدف گرځولی ؤ . هغه به هر وخت پهٔ خپلو ویناو کی په پاکستان کی د شریعت پر نافذیدو ټینگار کاوه او پدی لاره کی یې مؤثر گامونه هم اوچت کړه . د (۱۹۸٤) کال د جولائی د میاشتی په (۲۲) مه نیټه یې د یوی وینا په ترځ کی وویل: «پاکستان اسلام په نوم جوړ شوی . نه د کوم بل خاص نژاد او قبیلی په نوم . دلته به د ملک په هر کوځ کی محمدی شریعت جاری وی پدی ملک کی د محمدی شریعت جار کیدو ته څوک خند نشی واقع کیدی . او پاکستان به اسلامی نظام جوړیدو خواته مخ روان وی».

د « صدر ضیاءالحق » مدبرانه ښکاره سیاست او د اسلام د سر لوړی لپاره زیار ایستل دشمنانو متحمل نشوای کړای او بالاخره د (۱۹۸۸) کال د اگست د میاشتی په (۱٤) مه نیټه د یوی خائنانه توطیهٔ په ترځ کی (د الوتکی د حادثی له امله) د خپلو نورو اندیوالانو سره یو ځای په شهادت ورسید . چی د نړی زیاتو هیوادونو د هغه په مړینی د غم ښکارت کولو په ترځ کی دوه ، دری یا یوه اونی ماتم اعلان کړ.

د صدر ضیاءالحق د شهادت وروسته «غلام اسحق خان» د قدرت واگی په لاس کی واخیست او په لومړی ورځ یې پاکستانی ولس ته د وینا په ترځ کی وویل : «موږ به په بهرنی او کورنی سیاست کی د صدر ضیاءالحق تگ لاره تعقیب ؤ».

پیغام شفق

او راهم کرده میتوانست . . .

بالاخره او دررارسالتش که عبارت بود از نفاذ شریعت در پاکستان ، پیروزی جهاد افغانستان و وحدت امت اسلامی جام شهادت بسر کشید ؛ قهرمان زیست ، قهرمان جان به جان آفرین سپرد و (. از لایزال بخشندهٔ عزت ارزومندیم که در صف قهرمانان بدر و احد و جهاد افغانستان حشر شود . . .

بلی ! برادر اشنای تعهد و سنگر ، برادر اشنای ما در ۱۷ اگست ۱۹۸۸ ساعت ٤-۲۰ عصر در مضافات شهر بهاولپور در نتیجه یک سانحه هوایی ، بسوی کرانه های بلند بالای ابدیت پر کشود و به لقا الله(ج) شتافت . . . روحش در عیلین و راهش پر رهروان و ارزوهایش شگوفان باد . . .

راغلی لیکونه

برادر هدفمند و پاک طینت فروفکر عزیز خداوند شما را غرق دریای صحتمندی و نور گرداند

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته :

از خداوند توانا نیاز مندم که قلب مملو از عشق و محبت تان چون شهر بلورین اسما ن پر ستاره وچراغان باشد آمین یا رب العالمین

برادرم مد تی می شو د کو از فروغ سخنان گهر بار تان محر وم مانده ام ولی روحاًخودرااباشما نزدیک می یابم.

برادر مجاهد. حادثه دلخراش بهاول پور که تاروپود هرمسلمان را براتش کشید مرا برآن داشت تابا قلم نارسا وناتوان خود چند سطر به افتخار مرد مومن مرد حق بنویسم . مردیکه میتوان انراسیدالانصاردانست مردیکه مجاهدین سربکف افغان را حوصله می افزود وروسان وحشی را در هر میدان شکست‌های سیاسی ونظامی داد مردیکه درمرکز اربابان تثلیت و صهوئیزم ترانه های نجات بخش قرآن فرا خواند

چه توان گفت در وصف چنین مردی که در راه دین خدا مردانه وار شهیدو پروانه وار سوخت واز کوچه‌های شهادت قلندرانه گزر کرد ودر اخر لحظات عمرش کتاب دربغل داشت وپیش از اینکه ذرات جسم مطهر و پاکش بر زمین سقوط کند روح

لاهوتی اش‌درعلیین‌جا گرفت و در زیر
سایه‌های عرش‌خدا برشاخه‌های نغزطوبی
اشیان بست ودر سینه‌های مرغکان‌سبز
بهشتی رزق‌خوردگی را اغاز کرد برادر
عزیز امیدوارم قطعه شعری را که
بدست برادرم داود جان‌ارسال داشتم
از نظر گذارنیده اگر لازم دانستید در
مجله وزین شفق به نشر سپارید

تاباشد که ازقطرات‌قلب پرخون
یک رهرو کوه ملامت و اقامت گزین
سرزمین هجر، دامن شفق ادب سرخ
گردد در خاتمه از پروردگار بی نیاز
امید میکنم که‌شما را مصدر خدمات
ارزنده و شایان به جهان اسلام
با لخصوص به‌افغانستان عزیز وتر
بخون نماید با تکرار سلام واحترامات
مخلصانه خود شما را بخداوند بزرگ
وقوی‌می سپارم ولسلام علیکم ورحمة
الله وبرکاته

برادر کوچک تان محمدیعقوب مجددی

برادر مبارز هدفمند محترم
محمدیعقوب‌جان مجددی صاحب السلام
علیکم ورحمته الله‌وبرکاته !

محترما ! نامه پراز شفقت تان به‌ادارهٔ
مجله‌رسید ، شعر تان را درصفحهٔ‌شعر
این مجله به نشر سپردیم ـ به امید
همکاری های بیشتر تان

اراد تمند شما فروغگر

افغانی میرمنی یا اتلی میندی

دمحمدنعیم. "تا شب " لیکنه ـ

د روسیې د ښځو د کمیټې رئیسه میرمن مادام «زوبانهویا» د پاکستانی میرمنو په نوم یولیک استولی او په هغه کې یې لیکلي : ډیری روسی میندی د هغو ځامنو په هکله پریشانه او لالهانده دي، چې په افغانستان کې په عسکري‌ګمارل شوي او اوس د هغو په باره کې داسی ویل کیږي ، چې ځینې یې د افغانی مجاهدینو په لاس کیوتی او په پاکستان کې د افغانی مجاهدینو په کمپونو کې بندیان دي او افغانستانی مجاهدین نه غواړی هغه خوشې‌کړی او یایې خپل وطن ته د ستنیدا اجازه ورکړی .

په لیک کې روسی میندو له ځینې پاکستانی میندو نه غوښتنه کړی ځو له خپل حکومت سره ارتباط ونیسی او زموږ د ځامنو د را خلاصون لپاره په مجاهدینو زور واچوی او دیته‌یې مجبور کړی چې ورسره د روسی میندو بندیان زامن را خوشې کړی» .

باید ووایو : آیا روسی میندی د خپلو وحشی او انسانیت نه لیری ځامنونه (چې) کاله په افغانستان کې د افغانی میندو په ځامنو څه ونکړل ؟ د افغانی میندو ځامن یې په روسی بمونو په ډیر زیات تعدادونه وژل ؟ آیا په زرګونویې د ټانکونو او توپونو په وسیله په ډیر وحشت سره خاورو ته ونه لیږل ؟ د افغانستان خاوره او بوټی یې د افغانی اتلو میندو د ځامنو په وینو سره نکړه ؟ په هغه وخت کې خو نه روسی میندو د افغانی اتلو مسلمانو میندو د زړونو د ټوټو (ځامنو) په بې‌ګناه وژلو زړبد شو او نه‌یې د افغانی میندو په ویر او غم (چې خپله د دوی د ناخلفه ځامنو لخوا ورته رسیدلی و) کله څه اندیښینه څرګنده کړی وه .

د روسی میندو وحشی ځامنو د وحشت له زیاتیدو سره سره د قهرمان افغانستان اتلو میندو اسلامی شخصیت او د خپل اسلامی هیواد د ساتنی لپاره یې د خپل زړه داد په خپله زیات‌کړی او د خپلو ځامنو په شهادتونویې صبرکړی او د ظالمو وحشی تیری کونکو د مقابلې لپاره‌یې په ډیره میړانه خپله قربانی ته وړاندی‌کړی او له یواځې ځوانانو ځامنو یې ځانونه قربان‌کړی بلکې واړه واړه شید وخوړونکی بچی یې هم د ظالمو تیری کونکو د وحشت او ځیرنې نه بچ ندی پاته شوی .

لدی سره سره افغانی میندو خپل عزت او غیرت ساتلی او د روسی وحشیانو له میندو نه‌یې امید ندی څرګند کړی څو خپل ځیرونکی وحشی او تیری‌کونکی ځامن وبوهوی ، افغانستان ته د تک نه‌یې وروګرځوی او زموږ د غیږی ماشومان د هغو د وحشت او ځیرنې نه وساتل شی ، د دی پر خلاف یې د محکمو مسلمانو اتلو میندو دوپارنه دګه لار او د فخر وړدود په دی وخت کې هم روښانه او تازه ساتلی او د خپل دین ، ناموس او وطن د ساتنی لپاره‌یې خپلو ماشومو او معصومو بچیانو ته چې د روسی میندو د وحشی ځامنو په لاسونو وژل شوی وو په ډیر زغم او صبر په خپل لاس خاورو ته وسپارل .

د افغانی مسلمانو او اتلو میندو اتلو ځامنو د روسی میندو له وحشی صفته ځامنو سره داسی بې‌دریغه او نه ستومانه کیدونکی مقابله وکړه چې نه یوازې په خپل راتګ او کړو وړویې دوی، د دوی میندی او باداران پښیمانه کړی، بلکې دوی د جنګ د میدان نه په تیښته مجبور شول او باداران او میندی یې هم په ماتې خوړولو باندی اقرار ته مجبوری دی . لدی‌کبله اوس روسی میندی د پاکستانی او نورو نړیوالو مؤثرو میندو خوشامندی‌کوی او وایې : زموږ ځامن ورنه را خلاص‌کړی !

د افغانی اتلو میندو لخوا ډیرځله وویل شول :

«موږ په افغانستان کې د روسی ښکیلاك د وحشتونو مسئول د روسی میندو وحشی ځامن بولو ، هغوی ډیر وحشتونه او بې‌دریغه وژنې وکړی او زمونږ په لکونو ځامن یې زموږ له غیږی د مرګ غیږی ته وسپارل ، نه یوازی دا بلکې زموږ د دین او خاوری د تسخیر او له منځه وړلو لپاره‌یې هم خپله ټوله هڅه وکړه خو ...»

روسی میندی‌که د خپلو ځامنو په مړینه او یا ورکه هر څومره غمجنې وی وی به ، بنایې ورته وویل شی : آیا افغانی میندی د خپلو ځامنو په غم نه غمجنې‌کیدی، هغه هم پداسی حال‌کې چې د دوی په وړاندی د وینه زیښبونکو روسی دزلدګانو لخوا وژل کیدل ؟ آیا د افغانی میندو داسی له ویاړه ډک صبر او زغم نړیوالو میندو ته ندی معلوم شوی ؟

افغانی میندی به د پاکستان او نورو نړیوالو میندو نه پدی‌ګیله منې له وی چې

روسی میندو تهِی لیکونه استولی وای څوِی خپل سره لیوان خامن له د اشان کړوړوله منع کړی وای ؟

که نړیوالو میندو په عمومی ډول او ځینی مسلمانو میندو په ځانگری او خصوصی ډول د صدر اسلام د میندو روښانه لار په نظر کی نیولی وای د افغانی میندو غم او غصه بهِی حس کړی وه او د مسلمانو میندو په حیث بهِی د روسی سورمخو میندو ته لیکلی وچی :

«اول تاسی له خپل حکومت سره ارتباط ونیسی او د افغانی میندو د بیگناه ځامنو د وینو بهولو او د هغو د وطن دورانولو تاوان ورکړی او هغه مینو نه و کاږی چی د افغانی مسلمانو میندو ځامن وربالندی تراوسه شهیدان کیږی ، د هغه نه وروسته به موږ له افغانی مسلمانو میندو سره تماس ونیسو ، څو خپلو توریالو مجاهدو ځامنو ته ووایو او د روسی میندو بداخلاقه ، ملحد ، وحشی او له انسانی خو یونونه لری ځامن چی د جنگ په ډگر کی یی نیولی بیرته ورخوش کړی» .

که مسلمانی میرمنی د روسی میندو داسی غوښتنوته اهمیت ورکوی ، د دی مطلب د دینه سوا بل څه کیدای شی چی هغوی د مسلمانو افغانی میندو په غم ندی غمجنی ، بلکی د هغو په بدل کی د روسی میندو په درد ځان درد من بولی او دا په خپله له کفر او الحاد سره مترادفه خبره ده .

د لوی او حقیقی منعم په نوم

د شفق مجلی محترمو کارکوونکو ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو وروڼو ! تر هرڅه د مخه ستاسو د سالمیت روغتیا او په خپلو الهی دندو کی درته لا بریالیتوب غواړم ، محترمو دوستانو دا دی زه یو گوډمات لیک درته لیکم چه پرلیکوئی زموږ د قهرمان ملت سرشاری او قربانی مجبورکړی یم ، دا ځکه چه زه ئی په نشرمعتقد نه وم، ځنگه چه دا لیک له سوِی نه تیتږ ده خوبیاهم زما د زړه دعشق او سوز د خاصو پردو څخه منعکس شوی دی نو ځکه‌ئی د نشر په باب د ادب او احترام په باره کی جدی هیله لرم د لیک د نشر په صورت کی تاسو ته دعا کوونکی ستاسو ورور حکمت الله (المدثر حاجت براتزاده) د زابل ولایت شا جوی ولسوالی د وحدت د جبهی یو مجاهد . ځرنگه چه په الله (ج) مین ملت دا د خدای مینو زعما وو په وسیله د هغوی په زړونو کی دا الهام او په ویده جسدونوکی دا د آزادی روح پوه کړه شوه نو سم دستی دغه ملت هم پر دغه د کړاو د ستونځوتکلیفو او ازغیو په ډکه لاره روان د شهادت او قربانی عظیم میدان ته ور وړاندی شو پدی میدان کی دی ملت داسی د سرشاری او قربانی مسابقه‌گرمه کړه، چه ټول عالم بشریت‌ئی د تحیر او تعجب په سمندر کی وغورځاوه د ټول عالم بشریت توجه‌ئی ځان ته را وگرځوله ، د سیل اولیدو لپاره ئی د نړی ټولی بشری پرگنی په هڅه اوکوشش کی ولویدی ترڅو دغه د قربانی د مسابقی په گرم میدان کی دغه په ظاهره ضعیف او تش لاسی ملت چه د نړی د یوه په اصطلاح سترنه ماتیدونکی قدرت سره ډغری وهی له نژدی نه د خپل سر په سترگو وگوری، چه څنی ئی د خپگان او څنی نور ئی د خوشحالی په صورت کی زړه او نازړه د دغو توریالیو اتلانو وهیواد ته راغلل څنویِی د دغه مظلوم او بیچاره ملت چه گواکی له روس سره مقابله د بشر د فطری سوِی نه لوړه ده د خوشحالی سندری وډغولی خلاصه د نړی دوست او دبنمن هره ثانیه زموږ د پرزوالو انتظار ایستی، خو ولی دی د ایمان او عقیدی په ځواک سمبال ملت د نړی هر وگړی ته ثابته کړه چه د ایمان او عقیدی نیرو او قوت ته دنړی هیڅ یو شیطانی قدرت هغه چه دوخت او زمان په ټولو مدرنو او وحشت اچوونکو وسلو سمبال او هغه چه د نړی د ټولو بشری پرگنو په مادی افکارو کی د هغه په وړاندی د ځمکی په مخ کی هیڅ یوه پدیده د هغه دمقابلی توان او قدرت نه درلودی خو اوس معلومه شوه چه د ځمکی په مخ لوی او ستر قدرت څوک دی ؟ ثابته ده چه د خدای (ج) د لاری مجاهدین له ځانه ستر اوغټ قدرت نه پیژنی او په وړاندی ئی ټول شیطانی قدرتونه له بیخه د دغه سیلاب د قهرا وغوسی په څپوکی غرقیږی او د نړی ټولو بشری پرگنو پرهغه مادی خیالونو د بطلان خط کش کړ ، زه دا په ښه اطمینان سره ویلی شم، چه اوس هغه نیالگی او گل‌بوټی چه لس کاله وړاندی زموږ د مؤمن ملت د شهیدانو په وینو خړوبیده ، هغه نیالگی اوس میوه‌داری ونی او گل بوټی په گل کیدو دی، انشاءالله. په دی نژدی وختونوکی به د دی ټولوقهرمانیو اوگټلی میدان افتخارات زموږ د هر مؤمن مجاهد په نصیب وی ، زه انشاءالله تا سوته زیری درکوم چه د بشر ستر دبنمن روس او د هغه رسی پرغاړه غلامان بالکل او دا بدی ماتی په وندر ترلی په تن مړه او په سر ژوندی د یوی فیصله کنی پولادی څپری انتظار باسی دا ځکه چه دبنمن ما خپله د جگړی په میدان کی همدا اوس لیدلی ، چه د مجاهدینو په کامل موفقیت او د دوی په کامله ماتی دومره متیقن شوم، لکه ځنکه چه هرفرد د سبا د لمر په راختلو یقین لری؟ که څه هم د دی لسوکلونو په اوږده جهادی مسابقه کی زموږ ډیر ورونه د شهادت په وینو سره کفنونه د لحد په تورو خاوروکی په ابدی خوب ویده شول د دغو ښائیښته او قهرمانو مجاهدینو یاد به د تل لپاره افغانستان مؤمن بچی هیر نکړی چه له هغوی نه سږ کال له ټولونه زیات زیات زموږ د ولایت (زابل) شهیدانو سخت ویر او ماتم ده چه د ولایت وگړی‌ئی په غم ژړیده او خدای (ج) خبر ده چه زه ئی هم په غم سخت وکړیدم خو حقیقی منعم خدای(ج) د شهیدانو د پا کووینو په بدل کی د ولایت د ټولو منطقو سرتاسری فتحی تحفه را کړه او همغه وه چه زه هم د هیواد د عزت شرف او آزادی د گرمو مرحلو څخه واپس د خپل تحصیل د تکمیل په خاطر پاکستان ته راوگرځیدم همغه وه چه ناڅاپه د داعی الی الله د خدای(ج) په دین مین ځوان د نیکو اخلاقوځانگری بیلگه د افغانستان د انقلاب د نویوځوانو سپاهیانو حق ته دعوت‌کونکی مشرقهرمان استاد شهید محمد طالوت موحد په دردونکی شهادت خبر شوم ربښتیا چه د استاد موحد د شهادت د ویر او غم افسانی د تل لپاره زموږ د زړه په دفتر کی ثبت شوی ، لږه موده لا تیره نه وه چه د جهاد دا یو بل زعیم جنرال محمد ضیاءالحق شهادت زموږ د زړه پر دی څیری ویری کړی. واقعاً چه موږ د خدای په یوه عظیم ازمون کی را گیریو ، خو د خدای احسان ده چه دا ملت په ډیر صبر او تحمل سره د جهاد دا ټولی سړی او تودی په خپله سینه کی گالی او په ډیر ثابت قدمی دا د مظلومو او اسیرو پرگنو د خلاصون او آزادی جهادی قافله د مشقتونو او کړاوونو نه ډک مسیر د خپل مقدس هدف په لور طی کوی ، د نړی هیڅ قدرت هم ددی په آزادی مین قوم د لاری خنډ او سد نشی کیدای . دا یو قهرمان طوفانی سیلاب ده چه د لاری ټول خنډونه په خپل څپوکی د ځان سره اخلی نو بناء د دی قافلی سره د دغه د ووتنو (شهید استاد موحد او شهید صدر ضیاءالحق پیوستون د هغوی د فامیل ټولو غړو ټولو مسلمانانو او خصوصاً د هیواد نوو بااحساسو ځوانانو ته تبریک وایم . لویه خدایه زموږ اسلامی تاټوبی افغانستن د خپل قرآن په حاکمیت او د آزادی په لباس ملبس کړی . امین .

حکمت الله «المدثر حاجت براتزاده»



دمجاهدهمت

محمدنسیم "نعیم‌زی"

دنگوغروکی یم لوی شوی په‌درنښت‌کی لکه‌غریم
زه سرتیری مجاهدیم ،ویره نه‌لرم زړه‌وریم
الوتل می په‌حسک غرونو، لورو،لوړوګړنګونو
تیت‌پرواز، راته‌عیب ښکاری ،زه‌شاهین دشین سترغریم
شنودروکی می تاتوبی، زرغونه ښکلی می مینه
زه ددی ښکلی تاتوبی خوکیدار شا م او سحریم
خیرچی خلکوته په تن زه‌خوار بی وسه‌غونده‌ښکارم
حقیقت‌کی زه غابن ماتی سوک په‌خوله دشکیلاک‌گریم
دایمان په‌ځواک‌دا په تل ،ډیره‌نه‌لرم له‌چانه
خاص توکل می په الله (ج) دی ځکه زه‌په‌هرچا بریم
لوړهمت ته‌می عاجزدی د"شرق ،غرب" دوا ړه‌ځواکونه
دروغ نه دی نړیوالوته ښکاره لکه‌د سپین لمریم
ماخوځله استعمار، راپرزولی خوله‌ئی ماته
دتاریخ پالمی وګوری دهردورسالارستریم
زه‌له قهره ډک تسوپان یم په داګونوا وغروخیژم
دالحادوفلسفی ته کلک‌ګوزار ،اولوی خطریم
دزمری په‌ځیرمی زړه‌غښ دسینی ګوګل کی پروت‌دی
دملحدا وطاغوت لافوته غوښه دسمندریم
داسلام لارکی ولاړیم اسلامی ژوندمی هدف دی
سربه‌جارکړم په دی لارکی زه ددی لاری نوکریم
لوی سیلاب یم ،را ولاړله‌هسکوغرونوګړنګونو
په‌مخ درومم خندوخارته‌هم کلندهم تیزتبریم
له‌آمونه ورتیریږم ،په‌تاشکندکی نه‌تم کیږم
په‌ماسکووروړم هجوم لوی، ګوربا چوف زړه ته‌خنجریم
مجاهدزه دحق لاری ،په‌منځل کی نا ست‌تیار تل
توپک توره می په‌لاس‌کی،توربالی دخپل سنګریم
ماورکړی امتحان دغښتلتیادی خو څرګندولی
نن هم ګوری نړیوالو ،بریالی په‌سره لښکریم
کله‌دلته ،کله‌هلته‌راته‌صف ،صف‌تسلیمی کیږی
ښه‌می کسه" نعیم زیه" زه‌فاتح دهرډګریم

"ناګار"

پیغام

ای له پیړیونه آزاده اسلامی امته
شهید د خپل قبر تر خنګه یو خوب پری ایږی
شا بسی دا بهیرګری اوزدد مهدی ترپا خون
دوینو هر څاځکی می ګرم انقلاب پری ایښی
دافغانی روح د خپل لوی عشق له معراج ځنی
ما ته ځولی د خپلولیو کی څه پیښکش راکړی
"سره دښمن "سره پخولا نشی تر عمره پوری
را ته پیغام ئی جنګ جګړه او کشمکش راکړی
د بت شکن د غیرتی او دهشتنی مقامه
دا سی ناری وی چی خوا تا ته نوریو تان پیدا شو
تاسی کړی ځان "کمون شکن" زه بت شکن وم بچو !
دا دوختونو تقاضی دی سره لیوان پیدا شو
ما ته غازی ننګیال "اکبر" له خپلی ګرمی سینی
ای دافغان پښتن ولسه یو پیغام راکړی
تربخا را پوری تعقیب کړی دابی خدایه کافر
دفتحی زیری ئی را ته پس له یوسلام راکړی
ما د مومندو د مورچلو له تا وده سنګره
چی د توپک زوریی انګریز لره عبرت پاتی دی
ما د منګلوچی دپلار نیکه له ما له ورته
په میراثه کی دپیښو پر ځای غیرت پاتی دی
ما ډکوچی له هغه خوا را وسر تور سر ځلمی نه
چی د دښمن لښکر د تیرو په وارونو شوی
ما د شینوارو او غلچی له هغه نر غیرته
چی د انګریز غاصب قوت په کوتکو نو شوی
د "ایوب" شناختی چی اوس هم دننګ شعار راکړی
وایی چی ګرانو وطنوالو حادثی وګټی
د مقدس اسلام بیرغ پسی صف صف ودریږی
ستره ولسه دپیښو په ځای کیسی وګټی
د کندهار د لوی ولس د احمد شاه له ځالی
چی ارادی یی له آسمان سره د غری وهی
دصا بر شاه ملنګ دعا ښکلی تحفه راسره
ما دبابا دا رادت لویه ځولی را اوړی
په وینو لژنده لمن کی تا ورا تاوه څوندی
توده جذبه می دهمت او ورورولی را وړی

ماته "صافو" غلبیل سینی جی لاترا وسه پوری
لکه شفق پری رنگینه واړه کونړپاتی دی
غلی نغمه ده ترنم کی ئی هنگامی پټه دی
مکار دښمن یی پر ځولوکی لا لړپاتی دی
وابی جی ای دژوندقاصده دڼا لی پناه مه
داستان دتوری زماگردوتوریا لوته وایه
ددښمن مکرکچ کوی تل دقرآن په نظر
پریکنده پریکړه شته دتوری او تفنگ په خوله کی
هغه ټکرچی دحاکم اودمحکوم منځ کی وی
آزادی پټه ده دهغه تا وده جنگ په خوله کی
قسم ددی امت په نه تسلیمیدونکی اسلام
دسره ښامار په خونه لرزنده توپان خورو
قسم ددی هیوا ددلویو قربانیو په سر
دآزادی په ستربنیا دکوردافغان جوړوو
یا به دوینو یولوی سیند دغلته بل شی روان
یا به په ژوندله ملکه ټول قطبی خرسان وشړو
یا به داخاورکچ وبچ باروت پولادوگرځی
یا به تری واړه یرغلگرا وشرمسان وشړو

مسئول مدیر ــ فروغگر.
مرستیال :
مولوی محمد نعیم « تائب
لیکوال غړی :
۱ــ محمد رحیم « خنجر »
۲ــ ذبیح الله « قریشی

وجه اشتراك در خارج از کشور
سالانه ۱۸ دالر
شش ماهه ۹ دالر
قیمت یك شماره ۲ دالر

ادرس مکاتباتی
کمیسیون ارشاد و فرهنگ
مدیریت مجلهٔ شفق
پوست بکس نمبر ۲۱۱
پشاور صدر

PROPERTY OF ACKU


مسجد تاریخی پل خشتی که بنام
مسجد جنرال محمد ضیا الحق شهید
مسما شد.